
خبرې
له خبرو
پیدا کېږي
د متلونو کیسې او معلومات
علم گل سحر

# خبرې له خبرو پیدا کیږي

# دمتلونو کیسې

## علم ګل سحر

ګڼه متل مخ

-۱خدای چارې په مدار کړي ..

۲دخره ښځبنتن ته ورپیښه ده

۳ته مې وزې وهه زه به دې ....

۴ړنګه شې درې نر دې پڅ...

۵انصاف له حیوان سره هم

**۶احمد دخسو دغلو ، ککو**

**دمرکو**

**۷اوبه تر غاړې زوی او لور**

**۸-پکه چا په ورا نه پریښوده**

**...**

**۹ – نه به وخت نه به دوران راشي ....**

**۱۰- له نه سړو ملك شو بلو**

**۱۱- په ګیدړه پورې خپل پوست اور دی**

**۱۲- ناوې ګوره ، سر یې اوبه**

**۱۳- بخت مې بیداریږي، کاك مې...**

**۱۴- ما چې دخاوو مړي لیدلي ، زما کور غړي وتلي**

**۱۵- که شپه تیاره ده،منې په شمار دي**

**۱۶- د صاحبانو کابل نه خوښیږي**

۱۷- څه توره تېره وه څه ابی ورسته وه
۱۸- څوک چې چېرې اوسي خوی به دهغو...
۱۹- که راغلمه تر بلخه راسره ده خپله برخه

۲۰- له نه سړو ملك شو بلو

۱۲ – کرمیه چې غم نه وي ، غم به راوړي
۲۲ – دشپیتو بړیځو ورځ په ورځ کمی دی

۲۳- که مرگ غواړی کندز ته ولاړشه

۲۴- هر ښار ځان ته ده خواجه لري

۲۵- چې دلته داسې حال دی ...

**۲۶- عزرایله وروره روغ او ناروغ پیژنه**

**۲۷- چې بیګاته وې حیران ...**

**۲۸- من خورم چارک ګټم ،مورې اوسم که درځم**

**۲۹- په سترګو وینې په زوی لوړی**

**۳۰- نیکی سین هم نه وړی**

**۳۱- ارمان افغانستان یوه سترګه دوه کسان**

**۳۲- داپکې وو او داپکې نه وو**

**۳۳- د کانګړې په ډب کې لاړې بته ګرامه**

۳۴- که حال وایمه نو بې بې مې ...

۳۵- وتې خوار تر چاشي

۳۶- کتابونه دریابونه دي

۳۷- تر خپل کافر مې جار کړې

۳۸- توتان د بیار خورې صفت د پتېوات کړې

۳۹- اخر زمان شو ، درې مې راوړې ...

۴۰- موږک د سوړې د ننوتو نه وو چې...

۴۱- چاته له ازل نه ده او چاته له...

۴۲- اوښانو به ژړل خو بورۍ ژاړي

۴۳- سُدم ته شین دی

۴۴- له چې دی نه به وا نه ورم چې...

۴۵- د خوارانو ځای جامراد دی

۴۶- له خپلې شړۍ سره سمې پښې غځوه

۴۷- څوک يې؟ د زرجانې ...

۴۸- تهار وخوره کهې که دا...

۴۹- د انسان سترګې بې له خاورو نه مړيږي

۵۰- اوبه له پاسه خړې دی

۵۱- په عمر کې دې یوځل شکوم

۵۲- دتو کليا نو څلی ...

۵۳- اګا يې په یوه هګۍ نه ډير وي

۵۴- چې په خندايې خورى دا بله هم...

۵۵- شوى په غزني ،سابرو کور...

۵۶- ټوپ کړي نه ټوپ کړي

۵۷- بخت چې دې بیدار شي...

۵۸- ورادې راغله پکې ،دا ګومان ...

۵۹- د نورو يې له نورو د ...

۶۰- دايوه برخه زما ده،يوه مې د ټوپک...

۶۱- خداى خبرچې ښو ته ورک ...

۶۲- چېرته هندوان چېرته توتان

۶۳- دژمى به لمر مه نازېږه او د...

۶۴- پيسې راوړه تر وې ډېرې دي

۶۵- په يوه ډله وربرو کې نو رجان پروت...

۶۶- كه نر دى هم راوبې لوشه

۶۷- دبرکلي پخه نه وه او د کوز...

۶۸- کوکه وروره ته غلا کوه زه...

۶۹- پېريانو ته غزني څه وي

۷۰- خربه مې کونړ ويني زه به ...

۷۱- نه ګله ښه ده نه دابله  سر ...

۷۲- يوه ترور يوه وريره يوه ګله...

۷۳- چې سيپو شومه پرې پوه شوم

۷۴- زه له اديلې نه تير يم

۷۵- پوزی دی که پوزۍ خو وديږي داود زۍ

۷۶- تر قل هوالله مه تيريږه

۷۷- داملوکو په طول کې که ...
۷۸- خانده خانده ډیرښه کور دې دی
۷۹- رښتیا وینا ملا قربان کوله چې ...

۸۰- هرچا سره پنج خویار اشنا سره نه پنج

## لومړۍ خبرې

په شفاهي ادب کې شاید متل یواځینی صنف وي چې د د نیا په ټولو ژبو کې اوچت مقام لري . د

متل د دې اهمیت او عمومیت لویه وجه د هغه په معنوي غنا پورې اړه لري . په متلونو کې د یوه اولس د اخلاقو،عقل او پوهې کچه د شفاهي ادب د هر بل صنف په پرتله په زیاته اندازه څرګندیږي . د پښتو د ټولنیز قانون ( پښتونوالي ) کابو ټول مفاهیم یوازې او یوازې په متلونو کې خوندې دي . پښتو متلونه نه یوائې د پښتو ادب غوره نمونه ده بلکې د پښتون د نفسیاتو او کلچرد ادراک لپاره بهترینه وسیله هم ده . زموږ لیکوالو په تېره نیمه پیړۍ کې د متلونو د راټولولو او خپرولو کارته د یادونې وړ پاملرنه کړې او ورسره یې په متلونو پورې کیسې هم له پامه نه دي غورځولې . په متلونو

پورې ترلې کیسې نه یوازې د متلونو په معناکولو کې مرسته کوي ، بلکې پخپله یې هم د ادب یوخپلواک صنف بللی شو چې د طنز او کیسې ډېرې ښې نمونې پکې موندلی شو .

په ازادي راډیوکی د فولکلوریکو پروګرامونو د برابرولوپه وخت کې مې د متلونو کیسې د خلکو له خولې ثبت کړې ،چې زیات شمیر زما (د متلونوکیسې ) په لومړي کتاب کې چې د( ۱۳۸۷ ) کال په پسرلي کې د خوست ولایت د فرهنګیانو خپلواکې ټولنې له خوا ددغې ټولنې د رئیس تکړه لیکوال ،شاعر اوڅېړونکي بسم الله حقمل په هڅو چاپ شو.

له هغه وروسته مې چې هر متل اوریدلی لیکلی مې دی او د شالید او کیسې پوښتنه مې یې دلته او هلته او له هغه دغه څخه کړې ده . داسې هم شوي دي چې د یو متل کیسه مې اوریدلې یا مې پخپل وخت یاددښت کړې نه ده ،او که مې لیکلې را څخه ورکه شوې ده ،بیا مې چې هر څومره پوښتنه کړې ده ،چا یې په اړه معلومات نه دي راکړي .او شاید هیڅ یې پیدا نکړای شم. دغې موضوع مې دا اندیښنه وار په وار زیاتوله،چې زموږد بې غورۍ له امله به د متلونو څومره کیسې هیرې شوې وي .د متلونو تر څنګ به څومره لنډۍ ،کاکړۍ ،مستوبلې او

نورې فولکلوریکې کیسې ،نارې او سندرې هیرې او ورکې شوې وي .

زموږ د وطن د تیرو جګړو اومهاجرتونوپه وخت کې داسې کلي او ولسوالۍ هم وې چې یو مخ له اوسیدونکو تشې شوې وې ،اوسیدونکي یې ټول له یوې مخې مهاجر شوي ول .

طبعی ده چې یو شمیر متلونه د هغو کیسې او نورې فولکلوریکې سندرې هیریږي او که راټولې نه شي نو موږ به ډیر څه له لاسه ورکړي وي.

دغه کتاب بشپړنه و،چی تکړه لیکوال او شاعر لال پاچا ازمون راباندې غږوکړ .خدای

شته خوشحاله شوم،ځکه څومره چې ژر چاپيږي
دومره يې دله منځه تلو ويره کميږي او موږ د
نورو متلونو راټولولو ته هڅوي .

د متلونو زياتره کیسې او معلومات لا
بشپړاو کمپوز شوي نه و،خوګران استاد اسد
الله غضنفردغه ستونزه هم هواره کړه.

استاد غضنفرد هجرت په کلونو کی د
متلونو ډيرې کیسې راټولې کړې او له
پښتونخواڅخه په خپريدونکې هيواد ورځپاڼه
کې يې خپرې کړې وې .ماته يې راکړې ،چې
ددغه کتاب مهمه برخه هم دغه کیسې دي.د
ميرمن کلتوری ــ ټولنيز بهير فعالو غړو تکړه

ليکوالو ماريا صديقی او راحلې نوري په لږ وخت کې کمپوزکړل .

ددغو متلونو کيسې او معلومات مې د نورو کسانو له خولې ليکلي دي ،له دغو ښاغلو او آغلو څخه په مننې سره يې يوازې دلته نوم يادوم :فريدون الهام ،نجيب الله پوپل ،غلام ولي نوري ،محمد رفيق رفيق،نور محمد نور زرمتی، ساهره شريف ، زرغونه رحمتي ، خاطره اسحاقزی ،اسد الله بلهار جلالزی، محمد صديق امرخيل ،ومان نيازی ، سيد جان قاضي زاده ، عبدالقديم وياړ ،فرزاد لامع ، ، سميع الله جلالزی ، مرضيه امين ،اجمل تورمان .

له اغلو راحلې نوري او ماریا صدیقي او ګران روښان زرمتي څخه مننه کوم چی په تنګ او لنډ وخت کې یې دغه کتاب کمپوز کړ.

دقدرمن استاد اسد الله غضنفر د مینې او لورینې پوروړی یم چې زیار یې پخپله ایستلی و،ویاړیې ماته راکړ او د زیاتو متلونو کیسې یې را باندې ولورلې .

د تکړه او نوښتګر لیکوال او شاعر لال پاچا ازمون مینه او اخلاص و،چې دا کتاب تر تاسي در ورسیده ، زه ترې ډیره ډیره مننه کوم ،چې تل یې خپلې ژبې او ادب ته نه هیریدونکي خدمتونه کړي دي .

**په دې کتاب کې د متلونود کيسو تر څنګ د ځينو متلونود منځ ته راتلو په اړه معلومات هم ليکل شوي دي . ديو څو داسې متلونو کيسې هم بيا را اخيستل شوې دي چې دمخه زما په بل کتاب کې هم راغلې وي خو د دغو دواړو کيسو ترمنځ توپير شته او دا دنورو روايتونو پر بنسټ ليکل شوې دي .**

**د متلونو کيسې په لومړني کتاب کې مې ژمنه کړې وه چې په را تلونکي کتاب کې به هغه متلونه هم را اخلم چې اوس په هغه ډول د تطبيق وړ نه دي ، ما يې په اړه څېړنه کړې ،او له مختلفو کسانو سره غږيدلی يم چې ځينې آن رد شوي هم دي ،دا چې وخت لږ و، ومې نه**

شوای کولای دغه ډول ټول متلونه دلته راواخلم که د لوی خدای(ج)رضا وه په بل راتلونکي کتاب کې به دا متلونه هم راواخلم.

ګرانه لوستونکیه!

ستا په کلي او سیمه کې د متلونو ډیرې کیسې ،لنډۍ، کاکړۍ،مستوبلې،فولکلوریکې کیسې ،نارې او سندرې او د ماشومانولوبې، کیسې او سندرې شته چې لا تر اوسه چا نه دي را ټولې کړې .همدا اوس قلم راواخله له با خبرو کسانو او مشرانو پوښتنه وکړه،ویې لیکه، په نورو ژبو یې وژباړه.

زه ددغې لړۍ د نورو کتابونود لیکلولپاره د ټولومرستې ته سترګې په لاره یم.

اوس همدومره

مینه او درنښت

علم ګل سحر

کابل–څارندوی مینه

د۱۳۸۷کال د سلواغې لسمه نیټه

## خدای چارې په مدار کړي

## بنده نه دی چې تلوار کړي

وايي يو وخت يوه خان پخپلو يتيمو تربورونو ډير ظلم کاوو ، ددوی پلار هم ده وژلی و ، خو په حکومت کې يې رشوت تير کړی و او دهغه دمرګ پړه يې د وژل شوي پر ورور ور اچولې وه ،يعني يو ورور ووژل شو او دابل دهغه دمرګ په تور بندي شو ددغه کور ټولو غړو ته ټول حال معلوم و خو څه يې نه شوای ويلای ددغو ددواړو وروڼو زامن او کورونه دغه ظالم ته ور پاتې شول ،

دیتیمانو آواز هیچا نه اوریده ، ددوی انا چې
مشره او تجربه کاره میرمن وه ډیره ډاډه وه ،
چې ظالم ته به خدای پخپله جزا ورکړي
خو دکورنۍ نورو غړو به بې صبري کوله ،
انا به یې ډاډ ورکاوو کلونه تیر شول ټولې
کورنۍ به انا ته ویل خدای به دې ظالم ته
څه وخت سزا ورکوي انا به یې ویل تاسې
صبر وکړئ خدای کارونه په کرار کوي بنده
خونه دی چې تلوار کوي .
ډیر کلونه نور هم تیر شول یوه ورځ دغه
ظالم سړي له خپل ورور سره جنګ وکړ
خپل ورور یې وواژه او دی بندي شو په
همدې وخت کې خلکو پرې شاهدي

وويله چې دغه سړي دمخه هم دا بل سړی
وژلی و ، دا ظالم سړی په عمري بند
محکوم شو اولادونه يې ددا نورو يتيمانو
غونډې بې سرپرسته او خوارو زار پاتې شول
له هغه وروسته دامتل وشو چې:
خدای چارې په مدار کړي ، بنده نه دی چې
تلوار کړي

**دخره څښتن ته ور پیښه ده**

ویل کیږي د چا خر له بار سره په ختهو کې لویدلی و او په ویاله کې بند پاتې و ، دخره څښتن چې هرڅومره زور وواهه ویې نه شوای کولای چې خر له ختهو وباسي له یو بل لاروي یې مرسته وغوښته ، لاروی راغی خرېې تر غوږو ونیو خو دزړه زور یې نه کاوو په دې منځ کې ډیر وخت تیر شو ، شپه را نږدې وه ، دخره خاوند ولیدل چې

لاروی هسې لګیا دی دزړه له اخلاصه مرسته نه کوي نو ورته ویې ویل :
وروره کور دې ودان ورځه ورځه چې په تا ناوخته کیږي دخره څښتن ته هسې هم ور پیښه ده .یعني چې ماته خورا پیښه ده مجبور یم خپل کار به کوم .

## ته مې وزې وهه

## زه به دې روژې وهم

وايي په پخوا زمانو کې يوه مالدار سړي روژې نه نيولې ، چا ورته وويل چې روژې نيسه خدای به دې په مال کې هم برکت واچوي ،هغه و چې دروژې په ميا شت کې يې په روژه نيولو پيل وکړ، خو هغه کال د وزو ناروغي هم خپره شوه ، ده ډيرې زياتې وزې درلودې ، هر سهار به چې له خوبه پاڅيده ليدل به يې چې څو وزې يې مړې شوې دي ، دې سړی هم بيرته په روژه خوړلو پيل وکړ ، چې هره ورځ به يې وزې

**مړې ولیدلې ، ده به هم ډوډۍ را وغوښته ، ډوډۍ به یې خوړله او دا به یې ویل چې خدایه ته مې وزې وهه زه به دې روژې وهم ،ددې سړي ټولې وزې مردارې شوې او روژه یې هم ونه نیوله یعني دوه تاوانه ور واوښتل، له هغه وروسته دا خبره د متل غوندې مشهوره شوه .**

## ړنګه شې درې نر دې پڅ ، ښځې تیرې

وایي یو وخت د یوه کلي خواته یوې درې ته له بلې سیمې کډې راغلې ، دا خلك په دره کې میشت شول په دوی کې رواج و چې دباندې ټول کارونه ښځې سرته ورسوي .

نار ینه به یې په کورونو کې ناست ول ښځو به خواري مزدوري کولې ،که به یې له بل کلي او قبیلې سره جګړه هم پیښه شوه نارینه

به په کورونو کې ناست ول ، ښځو به جنګ کاوو .

یوه ورځ یې له بل کلي سره جنګ شو ددغې درې ښځو سختې جګړې ورسره وکړې او دبل کلي ډیر کسان یې مړه او ټپیان کړل . وروسته له هغه دا متل وشو چې:

ړنګه شې درې

نر دي پڅ ښځې تیرې

## انصاف له حیوان سره هم په کار دی

ویل کیږي د اوسني هلمند ولایت په بست کلا کې د نوشیروان عادل د پا چاهي مرکز یا پلازمینه وه ، نوشیروال عادل یو ډیر عدالت خوښوونکی سړی و، له هر چا سره به یې انصاف کاوو او دچا حق به یې نه پخپله خوړ او نه بې بل چاته اجازه ورکوله چې د چا حق وخوري یا ظلم پرې وکړي .
نوشیروان ددې لپاره چې خلک وکولای شي په آساني سره دده دربار ته راشي او خپلې غوښتنې

وړاندې کړي دبست کلا په دباندې برخه کې
پر یوه دیوال زنګ نصب کړی و، هر چا به چې
غوښتل نوشیروان وګوري او خپل عرض ورته
وکړي ، دا زنګ به یې واهه ، بیا به د پاچا
عسکر ورتلل او دا سړی به یې د پاچا دربار ته
راووست .او نوشیروان به یې عرض ته رسیده
ګي کوله
وایي یوه ورځ یو خر د کلا له څنګه تیریده ، په
زنګ پورې لګیدلی ، پاچا چې زنګ اوریدلی
خپلو کسانو ته یې امر کړی ، چې عارض دده
حضور ته راولي ، د پاچا کسانو ولیدل چې
انسان نشته او خر په زنګ پورې لګیدلی دی ،
پاچا ته یې دا خبره وکړه ، پاچا ورته وویل رایې

وله ، حتماً څه خبره شته ، عسکرو خر دپاچا حضور ته راووست ، پاچا وليدل چې خر ډير ډنګر دی ، سمدلاسه يې امر وکړ چې دخر څښتن حاضر کړي .
پا چا د خره څښتن ته مناسبه سزا ورکړه او توصيه يې ورته وکړه چې انصاف له هر چا سره په کار دی وروسته له هغه دا متل عام شو.

## احمد دخسو د اوړو ، ککو دمرکو

وايي دپروان په ولايت کې دوه ورونه ول، يو احمدخان نوميده او بل يې ککو نوميده ، احمد خان به خواري مزدوري کوله ، او پخپله کرونده کې به يې کار کاوو او دکور خرڅ به يې برابراوو . ککو په ځواني کې د نصوار جوړولو په کارځای کې کار کاوو ، له همدې کبله يې سترګې دوخت په تيريدو سره ړندې شوې وې ، ده به کاروبار نه کاوو يوازې به په کور ناست و ، ميلمانه به چې راتلل ککو به

ورسره ناست و، مجلس به یې ورسره کاوو او دکلي کور ټولې خبرې او مرکې به ککو تر سره کولې .

مور به یې ویل چې شکر دوه زامن لرم احمد دخسو دغلو ککو دمرکو یعني احمدخان کورته لرګي ، غله او نور خرڅ برابروی اوککو مرکې خلاصوی وروسته بیا دا خبره متل شوه. ددې متلونو د منځ ته راتلو سیمه دپروان ولایت دی.

# اوبه چې شي تر غاړې
# زوی او لور شي تر پښو لاندې

روايتونه وايي د نوح (ع) دتوفان په وخت کې يو سړی له توفا ن څخه دخلاصون لپاره له خپل زوی او لور سره د يوه لوړ غره سر ته وختل خو هلته هم اوبه ور ورسيدې سړي لور او زوی را واخيستل او ديوې بلې جګې څوکې سرته وختل خو هلته هم اوبه ور ورسيدې چې اوبه ډيرې شوې او دده تر غاړې ورسيدې نو دځان دخلاصون په خاطر يې زوی هم تر خپلو پښو لاندې واچاوو

خو اوبه نورې هم ډيرې شوې او بيا د سړي تر غاړې ورسيدې سړي دځان ژغورلو لپاره خپله ګرانه لور هم تر خپلو پښو لاندې واچوله خو توفان و ، اوبه نورې هم ډيرې شوې او سړی له اولادونو سره يوځای غرق شو.

دې ته ورته زما دسترګو ليدلي حال يوه کيسه ده:

په ۱۳۷۷ لمريز کال کې چې ما په بي بي سي راډيو کې کار کاوو ، د بی بي سي دفتر هغه وخت په پيښاور کې و او زما کور په کابل کې و ، کله کله به دتورخم لاره

بندیدله او موږ به له نورو لارو لکه څڅوبي او ... په لارو پیښاور ته په ډیرو ستونزو تللو.
یوځل په همداسې خطرناکه لاره ور برابر شوو ، په غرونو کې مو سختې اوخطرناکې لارې په پښو ووهلې ، ها خوا مو یو پایکي موټر کرایه کړ چې د پښتونخوا په لوړو غرونو مو واړوي ، موټر په ډیره خطرناکه لاره دغرونو په ډډو او دغره په سر لاره لنډوله ، با الاخره دغره پر سر یوه ډیر خطرناك پیچومي ته ورسیدو،له موږ سره په موټر کې ډیر کسان ول په دې کسانو کې له یوه سره خپلې دوه کوچنۍ د۸ـ ۱۰ کلنو په شاوخوا کې لورانې هم وې چې ده په

ټوله لاره کې ډير کړاو ورسره ګاله ، موټر دپیچومي سرته وخوت خو بيرته دشا په خوا را خوشی شو ، بريکانو يې کار پريښود ، موټر دغره له سره دراپريوتو په حال کې و ، نور دژوند هيله نه وه پاتې ، څو کسو ځا نونه له موټره وغورځول . ددوو وړو نجونو پلار هم خپلې لوڼې پريښودې او خپله له يې له موټره ټوپ کړل ، ما دا يوه کوچنۍ نجلۍ تر لاس را ونيوه چې راسره وايې چوم خو را باندې ناوخته شوي ول. .

موټر د غره له سره د لويدو په حال کې و او دلوی پيچومي اخيري برخې ته رسيدلی و ، بس د خدای فضل وشو موټر په همدې

وروستۍ څوکه داسې ودريده لکه څوک چې يې په لاس ټينګ تکيه کړي . هغه سړی هم بيرته موټر ته را پورته شو او خپلې کوچنۍ لونې يې ښکل کړې له سترګو يې دخوښۍ اوښکې روانې وې ټولو پورې خندل او ماته دا متل را ياد شو :

اوبه چې شي تر غاړې

زوی لور شي تر پښو لاندې

## پکه چا په ورا نه پریښوده،
## دې دسر کجاوې غوښتې

په زیاترو کلیوالو سیمو کې داسې رواج دی چې دناوې دراوړلو لپاره لومړی درې ورځې یا هم یوه ورځ دمخه خیښې دزوم له کوره دتاوې کورته ځي او بیا دواده په ورځ ورا دناوې د راوستلو لپاره ځي اوبیا ناوې راوړي .

پخوابه یې ناوې په ډولۍ او کجاوو کې راوړه .

وايي په يوه واده کې يو پکه نجلۍ وه دا تر نورو مغروره هم وه نو ويل يې چې زه له نوري ورا سره نه ځم ، زه له ناوې سره يوځای د مخې په ډولۍ کې کينم ، چا ورته وويل اوس هم خوشحاله اوسه چې موږ دې له ورا سره پريږدو ته لا خوشحاله نه يې او دسر کجاوې غواړې .

له هغه وروسته دا متل وشو .

دې ته نږدې بل متل هم شته وايي:

پکې ورا دې راغله،دې ويل ګومان مې نه شي .

یا( ورا دې راغله پکې دې ویل ګومان مې نه شي ادکې چې کیسه یې په همدی کتاب کې راغلې ده.

**نه به وخت نه به دوران راشي ،**
**نه به بلبله سلیمان ته په خندا راشي**

ویل کیږي په پخوا زمانو کې ټول حیوانات او مرغان د سلیمان(ع) تر فرمان لاندې و، دټولو الوتونکو پاچا سلیمان پیغمبر و .
یو وخت چتکی چې په ځینو سیمو کې یې بولي او یوډول کوچنی مرغه دی په بلبله مین

شو ، چتکی سلیمان پیغمبر ته راغی عرض یې وکړ چې په بلبله مین شوی غواړي ورسره واده وکړي خو بلبله دده خبرو ته ارزښت نه ورکوي .

سلیمان(ع) بلبله راوغوښته ورته ویې ویل چې له چتکي سره واده وکړي ، بلبلې ورته وویل ما زما ښکلا وګوره او کوچنی چتکی وګوره ، هغه زما لایق دی؟

خو سلیمان (ع) پخپله خبره ټینګار کاوو ، بلبله له سلیمان (ع) څخه خواښینې شوه او ویې ویل چې بیا به دده دربار ته رانه شي .

هغه وخت وويل شول چې نه به وخت نه به دوران راشي نه به بلبله سليمان ته په خندا راشي .

وروسته سليمان(ع) چتکي ته شرط کيښود ورته ويې ويل چې ولاړشه ماته داسې لرګی راوړه چې نه کوږ وي نه سيخ وروسته له هغه به بلبله له تا سره واده وکړي .

که مو فکر کړی وي چتکی تمامه ورځ سترې وي له يوه ښاخ نه بل ته له يوې ونې بلې ته ټوپونه وهي او په داسې لرګي پسې چې نه کوږ وي نه سيخ سرګردانه دی او تر اوسه يې لا نه دی پيدا کړی.

ويل کيږي داسې لرګی چې نه کوږ دی نه سيخ شته او دا لرګی د غنم دوږی لرګی دی.

## په ګيدړې پورې خپل پوست اور دی

يو وخت يوه ګيدړه د کلي يوه کور ته ورغله چې چرګان وخوري خو د کور خاوند پرې خبر شو ، دهغه په نارو نور کليوال هم خبر شول ، ټول کليوال په ګيدړه

پسې راووتل کيدړه تر مخ کليوال پسې و نږدې و، چې ګيدړه ونيسي خو ګيدړې يو دم چيغې کړې:

- اور دی اور دی.

د کلي خلکو فکر وکړ چې په کلي کې اور لګيدلی بير ته وګرځيدل او د کلي په لوري يې منډه کړه ، ګيدړه په روغو پښو ترې خلاصه شوه . کليوال چې کلي ته راورسيدل اور نه و،لګيدلی.

له ګيدړې څخه چا پوښتنه وکړه چې ته خو تل وايې چې زه دروغ نه وايم ولې دې دروغ وويل چې په کلي کې اور لګيدلی؟

ګيدړې ورته وويل:

- ما هيڅکله دروغ نه دي ويلي رښتيا هم اور و.

ورته ويې ويل چې تا دروغ ويلي هيڅا هم اور ونه ليد،کليوال چې بيرته کلي ته ورغلل اور نه و،لګيدلی تا هسې چيغې وهلې.

ګيدړې ورته وويل : ما دروغ نه دي ويلي ما هيڅکله دا نه دي ويلي چې په کلي کې اور بل دی. ما ويلي چې اور دی او هغه اور زما پوست دی ، په ما پسې مې خپل پوست اور دی ، کليوال زما د پوست لپاره په ما پسې منډې وهي چې ما ونيسي او له پوست څخه مې ګټه واخلي.

نو ماته خپل پوست اور دی.
له دغې پیښې وروسته دا متل وشو چې په ګیدړې پورې خپل پوست اور دی.

## ناوې ګوره ، سر یې اوبه

ویل کیږي دغه متل لومړی ځل د پروان ولایت په غوربند کې ویل شوی دی. کیسه داسې ده وایي د غوربند درې په یوه کلي کې یوه نجلۍ ودیدله، سنګارونکې میرمنې د دغې ناوې په سینګارولو ډېر وخت تیر کړ .

ورا معطله وه ، د ناوې د را ولاړولو وخت و، خو سینګارونکې لا د ناوې سینګار نه وو تمام کړی.
ورابانې په تنګ شول اخیر راغلل سینګارونکې ته یې وویل چې دا دې څومره زیات وخت پرې ولګاوو و ژر ناوې جوړه کړه چې ناوخته کیږي .
سینګارونکې میرمنې ورته وویل زه ناوې ګورم بیا یې سر اوبم او سینګار یې کوم، که نجلې ښکلې نه وی نو زه ډیر زحمت نه باسم او ژر یې سینګار خلاصوم و خو که خدای ښکلا ورکړې وی نو زه هم ډیر وخت پرې تیروم ترڅو لا ښکلې شي .

ځینې کسان وایي چې دا خبره بر عکس شوې، دغه ناوې ښکلې نه وه او سینګاروونکې ورا بانهو ته په غوصه وویل چې ناوې بد رنګه وه ،ځکه مې دومره وخت پرې تیر کړ ، ایله بیله سینګار شوه.

ددې متل بله بڼه داسې ده چې وایي: ورور یې ګوره خور یې غواړه.

یعنې که ورور یې ښایسته وی خور به یې هم ښایسته وي .

## بخت مې بیداریږي

## کاک مې په څلورو روانیږي

کاک د پاستی هغې ډوډۍ ته وایي چې د ډبرې په تبۍ یا تبخي پخیږي . په کلیو کې د کلي خلک د جمعې په ورځو کې را ټولیږي او په زیارتونو یا پخوانیو هدیرو کې په تبخي

ډوډۍ پخوي په لاره تيريدونکو مسافرو او نورو خوارانو ته يې خيراتوي.
ددې متل کيسه داسې ده وايي يو وخت په کندهار کې همداسې د کلي ميرمنو په يوه زړه هديره کې کاکونه پخول ، يوې ساده ميرمنې اوړه په کشپ اچولې ول ، دا چې ډوډۍ يې د ډبرو په تبۍ پخوله  د کشپ رنګ هم ډبرې ته ورته و، ددې ميرمنې پام نه و ، کشپ چې وروسته لږ تود شوی و ، روان شوی و، ميرمنې متوجه شوې چې اوړه روان دی ، حيرانې شوې ، ساده ميرمنې وويل چې اوس مې بخت را بيدار شو چې کاک مې هم پخپلو پښو تللای شي . له هغه

وروسته په سیمه کې دا طنزیه متل عام شو
چې:

بخت مې بیداریږي
کاکې مې په څلورو روانیږي

ددې متل د کیسې په اړه بل روایت هم شته وايي څو تنو څړه مسافرو وړه واغږل ،اوریې بل کړچې کاکونه پا خه کړي. کاکونه یا ککوړی په سفر کښې پخوی،وړه ښه ټینګ لانده کړي بیا یې په ښویو ډبرو وپیچی اوپه انګا ر یې ښخ کړی.چې پا خه شي ډبرې پرې وبا سی او خوری یې دوی هم چې کاکونه په اور کښی ږ دول ،په غلطۍ یې په کشپ (شمشتۍ)د ډبرې ګومان وکړ.چې کشپ یې په وړ و پټ

کړ او په انکار یې کېښنود ،داورله تاوه کشپ روان شو ده د کاک حرکت په نېګ شاګوم ونیو،پاڅید له خوشحاله یې اتڼ شروع کړ او په اتڼ کې به یې ویل:

بخت مې را بیدار شو کاک مې په څلورو راروان شو.

# ما چې دخاوو مړي ليدلي ،
# زما کور غړي وتلي

دغه متل کابو اتيا نوي کاله وړاندې د پکتيا په زرمت کې ويل شوی دی .
خاوو په زرمل يا زرمت کې د يوې غونډۍ نوم دی چې د همدې غونډۍ په شاوخوا کې سخته جګړه پېښه شوه ، ځينې کسان وايي چې دا خپل منځي جګړه وه خو ډېر بيا وايي چې دا

جګړه دسيمې دخلکو او سقاوي لښکرو تر منځ پيښه شوه .

د سقاو حکومت غوښتل چې خلک بيعت ورکړي خو د زرمت خلکو بيعت او ماليه نه ورکوله ، چې بيا وروسته سقاوي ټوپکوال زرمت ته راغلل د زرملې ځوانانو هم دخاوو غونډۍ شاوخوا ورته ونيوله ، چې ددواړو خواوو تر منځ سخته جګړه پيل شوه په جګړه کې له دواړو خواوو ډير کسان ووژل شول دجګړې مړي څو ورځې په ميدان پا تې ول ، وايي کوم سړی دې غونډۍ ته ورغلی و ، دلته يې مړي ليدلي ول ، چې بيرته خپل کورته تللی و ، په کور ډير خواشينی و ډوډۍ نه خوړله چا

ترې پوښتنه کړې وه ده ورته ويلې ول : ما چې دخاوو مړي ليدلي زما کور غړي وتلي .
چې دده دا خبره وروسته متل شوه
غړي په دوو معناوو کارول کيږي يو داچې غړي يو ډول پنډې پنډې ډوډۍ دي چې دډبرې په تيغنه يا تبخي اوه اته پاستي په غوړو کې پخوي بيا يې يا دښې شپې په شپه يا نورو خيراتونو کې جومات ته وړي هلته يې کليوال او مسافر خوري دمړي کورته دعا کوي .
بل غړي يو ه استعاري جمله هم ده کله چې ځوک ديوې سختې پيښې له امله ډير هيجاني شي هم نو وايي چې غړي مې ووتل.

ددې متل په اړوند يې دواړه معناوي صدق
کوي.
ویل کیږي دسقاو لښکرو دپکتیا په جګړه کې
دهغه وخت له پرمختللو وسلو او ماشینګنو هم
کار اخیستی و . په دې باره کې ولسي سندرې
هم شته لکه:

ملک د اسلام دی ،
داسې حال به په چا وي عالمه
سقاو ظالم دی
ماشینګنې پرې چلوي عالمه
ملک د اسلام دی

**په دې برخه کې نورې سندرې او لنډۍ هم شته ، که خدای کول په نورو کتابونو کې به پرې پوره خبرې ولرو .**

## که شپه تیاره ده،منې په شمار دي

ددې متل کیسه داسې ده وايي دوه کسه په یوه کوټه کې ګډ اوسیدل ، د ډوډۍ له خوړلو وروسته د مڼو په خوړلو بوخت شول . د مڼو د خوړلو په وخت کې څراغ تیل خلاص کړل. یوه ملګري ژر ژر منې خوړلې

، ده فکر کاوو چې د بل انډیوال یې ورته پام نه دی و هغه یې کوله د شپې له تیارې ګټه واخلی او ډیرې مڼې وخوري .
خو ملګری پوهیده چې د کوټې ملګری د مڼو په خوړلو لګیا دی ، نو ورته ویې ویل چې په تیاره کې زما برخه مڼې مه خوره ، که شپه ده او تیاره ده مور لیدلی نه شو خو د مڼو شمیر معلوم دی .
وروسته له هغه دا متل را منځ ته شو چې
که شپه تیاره ده،مڼې په شمار دي

# د صاحبانو کابل نه خوښیږي

پېرنګیان چې په ډېره دبدبه د شاه شجاع په مرسته له هنده راوخوځېدل او د بې اتفاقه افغانانو په پلاز (تخت ) يي خپله ناټکی کېښنوله

نو په اولو شپو کښې خو کامياب معلومېدل او دخپل برياليتوب ډمامې يي د هند په ګوټ ګوټ کښې وغږولې ، مګرد دوی د سرلوړی داستانونه او حماسې لاپای ته نه وې رسېدلې چې افغانانو دوی له خپلې خاورې وايستل . په هند کې به د پيرنګيانو تالی څټو د پوښتونکو دې پوښتنې ته چې صاحبان ولې راستانه شول ، داسې ځواب ورکاوه : ( هسې د صاحبانو کابل خوښ نشو) له دې ځوابه متل جوړ شواو تر ننه چې څوک خپل مجبوريت په بله بها نه پټوي نو دا متل ورپوې کيږي .

# څه توره تېره وه څه ابۍ ورسته وه

وايي يو وخت ډېر هوښيار ، خوله ورخو ډېر ظالم سړی په يوښار کې اوسېده،چې سره له ډېرو ظلمونو به چا پرې کولی نشو او سرې ستر ګې به ګرځېده .يو وخت يي د خپلې

خوابښې څټ په توره پرې کړ ، او ده لا توره تېکې ته نه وه وراچولې چې کوتوال نا څاپه هغه ځای نه راورسېده او سرې يې ونيوو.

دی لکه هوښیاره مرغۍ په دوه لومو کښې بندي وه او کله چې قاضي د قتل د علت پوشتنه ترې وکړه نو فکر واخیست وروسته له ډېره سوچه يې قاضي ته وويل :

صاحب څه توره تېره وه او څه هم ابۍ ورسته وه ، زه پکښې ملامت نه يم .

# څوک چې څېرې اوسي خوی به دهغوی سي

وایي په پخوا زمانو کې د کندهار په ښار کې یو پښ ( آهنګر ) اوسېده چې په ټول ښار کې یې د هنر او لیاقت اوازه خوره وه او ان تردې چې پاچا به هم خپله توره او نور سامان په ده

جوړول . ښ په پاچا ډېر ګران وو .پاچا به همېشه په دې فکر کې و،چې دی ونازوي خو د ده هرې مرستې له هغه مالدار سړی جوړاوه او پاچاپوهېده چې که ښ مالدار شي نو د پلار نیکه کسب ته به شا کړي .

یوه ورځ له ډېره فکره وروسته پاچادی وروغوښت او ورته وې ویل :

زه پوهېږم چې ستا یو زوی دی او ډېر دربندې ګران دی که ستا خوښه وي ستا زوی به زما له بچوسره نور یو ځای اوسي . ده په خوشحالۍ ومنله او زوی یې د پاچاله زامنو سره یو ځای شو . په اولو ورځو کې ښ بې حده خوشحاله و، خو وروسته یي د خپل زوی په خوی کې

بدلون ولید نو اندېښمن شو . اخر داسې وخت راغی چې زوی او پلارله یو بله په خوی ښخي پردی شول .بالاخره ښې مجبورشو پاچا ته یې عرض وکړ چې صاحب زما زوی بېرته زما زوی کړه .پاچادې عرض ته حیران غوندې شو .

وزیر ورته وویل :

– صاحب داسړی رښتیا وایي تا دا غریب پرې ایښی دی خو زوی دې ور شهزاده کړی دی . د دوی دواړو کله هم سره پلارولي ،زوی ولي نه کیږي . څوک چې چېرته اوسي نو په خوی به د هغو سي .

پاچا چې نه غوښتل د ښې نازولی زوی بېرته خوار کړي ښې یي هم شاهي مانۍ ته راووست

او زوی او پلار بېرته سره خپل او سره مل شول
برنی متل له همدې کیسې راپاتې شوی دی .
دا ډول هم ویل کیږي :
چې اوسې په خوی به دهغو سې.

## که راغلمه تر بلخه راسره ده خپله برخه

هسې وايي چې په تېرو زمانو کې دوه شپانه ورونه ول، چې (شپني) شپونتوب يي د پلار اونیکه له وخته پیشه وه. خو کشر ورور ته دا ډول ژوند خوند نه ورکاوه . یو وخت یې خپل

مشر ورورته وویل چې د تره لور به درته وغواړو . کشري ورور له واده کولونه انکار وکړ .دا خبره مشر ورور ته عجیبه معلومه شوه او د دې علت پوښتنه یي ورڅخه وکړه . کشر ورور ورته وویل :

په دې سپېره کور کې -
ټول عمر ژوند تېرول
خوند نه راکوي ، اخر
ترکله به سپېره ښوروا
زموږ خوراک وي .
زما زړه دی چې نور د
پلار او نیکه کسب
پرېږدم او بلخ ته ولاړ

شم . مشر ورور په
اوله کې هغه له تګه
منع کړ خو وروسته
يي وليدل چې ورور
يي وخت په وخت
کمزوری کيږي او
زړه يې په تنګ دی نو
د بلخ د سفر اجازه يي
ورکړه . کشر ورور
دری شپې او دری
ورځې مزل وکړ ، تر
څو چې بلخ ته
ورنيږدې شو هغه چې

د بلخ د ښار لوړ
برجونه او دېوالونه
ولیدل نو د راتلونکي
ژوند تصوراتو داسې
مشغول کړ چې شا او
خوا یې بیخي هېره
شوه. یو وخت یوه
سپاهي ودراوه او ورته
و یي ویل :
– راځه پاچا دې -
غواړي.
ده چې پورته وکتل پاچایي ولید ، چې بد بد
ورته ګوري .پاچا ورباندې غږ وکړ:

- هلکه سترګې دې

وینې ؟

ده ځواب ورکړ : هو

بیایې وپوښت : مست خوبه نه یې ؟

ده وویل : نه

بیایې وپوښت : عاشق خو به نه یې ؟

ده ځواب ورکړ : نه .

همدا رنګه څو نورې پوښتنې یې ځینې وکړې چې منفي ځوابونه یې ورکړل .د پوښتنو په پای کې پاچا ورته وویل روغ او جوړ بنې ادم یې نو زه دې ولې نه لیدم او ولې داسې بې خیاله رانه تېرشوې ؟ ماته به رښتیا وایې ، که دومره پوه شوم چې دروغ دې وویل نو انجام به دې ډېر

بد وي . شپون هم خپل حقیقت داسې ورته بیان کړ :

– صاحب له لرې ځایه دخوارۍ او مزدورۍ په نیت راغلی یم چې دبلخ برجونه او دېوالونه مې ولیدل نو دخیال په نیلي سپور شوم په خیال کې مې دبلخ په دروازه کې دسرو زرو کڅوړه موندله خو پدې قانع نه شوم پاچا دښآرکوتوال کړم .دکوتوالۍ په منصب مې هم زړه اوبه ونه څښلې دپاچا وزیر شوم زه په خیالونو کې دې ځای ته رارسیدلی وم چې پاچا لور راکړې وه او نور یې زه په تخت کینولم چې سپاهي ودرولم او له هغې دنیا یې دې دنیا ته راوستلم.

صاحبه:زه په خیالونو کې داسې ډوب وم چې
ځان مې هم هېر کړی وو،نور نو ستاسو خوښهٔ
چې هره سزا راکوئ.

پاچا چې دده خبرې واوریدې ورته وې ویل :
– زه یوه لور لرم زما زوم به دبلخ پاچا وې خو
دا څوکاله کیږي چې زما زوم نه خوښیږي ته
سر له ننه زما زوم شوې او دبلخ پاچا.

ماښام ته یي په شاهې ماڼۍ کې دومره قسما
قسم خوراکونه وخوړل چې دشپون خوارکي په
ګیډه دردشو .

دپاچا طبیب دڅو ورځو په مخه څه دارو درمل
سره له پرهیزه ورته تجویز کړل په دې وخت
کې پاچالور هم ور وداه کړه ، دپاچا دلور رنګ

کټ مټ دهغه دتره د لور په څېر وو او دهغې
غونډې يي په چپه سترګه کې ګل و . دی دې
ورته والي ته حيران شو . له ځانه سره يې وويل :
که راغلمه تر بلخه راسره ده خپله برخه
چې دا خبره متل شوه کله کله داسې هم ويل
کيږي .
چې ولاړ شې تر بلخه در سره به وي خپله برخه

# له نه سړو ملك شو بلو

بلو خان د آدم خان د راز ملګرى و، د هغه له ټولو رازونو خبر و او او د ستونزو په وخت کې به د هغه ترڅنګ ولاړ و .
آدم خان نور ملګري او یاران هم لرل لکه میروخان او نور . خو د بلو ځانګړنې داوې چې یو آدم خان ته تر ټولو نږدې و ، چې په

آدم خان به بده ورځ وه ، اول غږ به یې په بلو و .

کله چې آدم خان توتیا چې دده په نامه وه د پلار له کوره را وتښتوله ، په سبا یې د هغې د ورور بازید خان لښکرې له آدم خان سره د جګړې په نیت راغلې . آدم خان پر بلو غږ کوي :

بلو پاڅه سر اوچت کړه
چې تنګسه وی زموږ مل اوسه مدت کړه
د توتیا پوځونه راغله
پر یارانو باندې ،غ کوه همت کړه

بلو خان ډیر زړه ور او تورزن سړی و ، د بازیدخان له لښکرو سره یې سخته جګړه

وکړه ډير کسان يې په تورو ووهل ، چې د
بازيدخان وار را رسيده ، هغه وارخطا شو نو
پر آدم خان يې ناره کړه:

ځوانان دې ميړني دي
درته وايم يو تر بله ګړندي دي
دغه خپل بلو در نيسه
دغه ستا ديار خو سترګې د خوني دي

بلو يو بيوزله او غريب سړی و ، ويل کيږی
پخوا تر دې مريی و لکه چې په دې ناره کې
معلوميږي .

تترخان چې د آدم خان تربور او سيال و ، د
يوې لانجې په وخت کې بلو ته وايي :
خامه بلو خامه

**درته وایم ته غلط ولاړې نادانه**
**ته اول مریی زما وې**
**د کابل پر نخاس ودرې غلامه**

**بلو ساده سړی هم و ، کله به چې آدم خان نه و ، نو ده به د خاني او ملکي اکتونه کول ، نو خلکو به په طنزیه انداز ویل :**

**له نه سړو ملک شو بلو**

**له هغه وروسته دغه متل عام شو.**

# کرمیه چې غم نه وي ،
# غم به راوړي

**کرمی د فتح خان بړیځي د شپیتو یارانو په ډله کې یو یار و ، دی زړه ور او په عین حال کې شر خوښوونکی سړی هم و .**
**د فتح خان او رابیا د نکل له مخې فتح خان ته زیاتره ستونزې همده را پیدا کولې .**
**کله چې فتح خان له خپلو بړیځو سره له بست کلا څخه روانیږي ، ماښام یې په یوه**

دښته کې واړول فتح خان دوه زړی و چې پر
کومه خوا ولاړ شي فکر یې وکړ چې د شپې
یوه سانګه پر ځمکه لکه کړي سهار چې
هرې خواته کږه وه پر هغه خوا به ځي . فتح
خان دا دنده کرمي ته وسپارله .
کرمي سانګه(نیزه) لکه کړه . بیرته نیمه شپه
له خوبه را پاڅید ، ویې لیدل چې سانګه یا
لکړه د مکې شریفې په خوا نړیدلې ده ،
کرمي د هندوستان په لوري و نړوله ، سهار
وختي یې پر فتح خان ناره وکړه :
سر له سره پالنګه هسک کړه فتح خانه
یو مې سانګه هندوستان په لوره کږه ده
فتح خان څه ونه ویل ، کرمي بیا ورته وویل:

سر له سره پالنګه هسک کړه فتح خانه
یاغي شوی هندوستان رعیت دی
فتح خان او ملګري یې هندوستان ته ځي
هلته د شمس الدین نومي پاچا تر واک
لاندې سیمه کې چې اوسیدونکي یې بې
اتفاقه دي میشت کیږي .
دغه خلك ګواریان(مغل) دي . یوه ورځ
دغه ګواریان له فتح خانه هیله کوي چې
ددوی او ددوی د مخالفینو ترمنځ روغه
جوړه وکړي ، فتح خان د هغوی تر منځ
سوله کوي .
خو کرمی ددې لپاره چې دغه خلك دسولې
تړون او دغه وعده ماته نه کړي ،ټول وژني .

كرمی هر وخت فتح خان ته ستونزې او لانجې پيدا كولې ، يوه ورځ شمس الدين پاچا د سيمې له خلكو څخه د ماليې د راټولولو لپاره ددوی كلی ته دری تنه عسكر ليږي ، كرمی دوه عسكر وژني ددريم ژبه پرې كوي ،دغه عسكر پاچا ته ورځي خو پاچا يې په خبره نه پوهيږي بيا دری تنه عسكر ور استوي دا ځل كرمی دوه عسكر وژني دريم په منډه ترې خلاصيږي ، ځي او پاچاته دغه خبر وروړي فتح خان چې راځي له موضوع خبريږي په غوصه كيږي په كرمي ناره كوي :

كرميه چې غم نه وي ته غم راوړې

کرميه پر لم غوټه سپرو واوړې
کرمی فتح خان ته نورې ستونزې هم پيدا
کوي چې په پايله کې ددوی او پاچا تر منځ
جګړه نښلي.
له دې وروسته دا متل منځ ته را غی چې :
کرميه چې غم نه وي غم به راوړې
اوس هم هغو کسانو ته چې تل ستونزې او
لانجې پيدا کوی خلك دا متل وايی چې
کرميه چې غم نه وي غم به راوړې

# دشپیتو برېښو ورځ په ورځ کمی دی

کله چې کرمي  د شمس الدین پاچا د خزانې کار وان لوټ اود شمس الدین عسکریې ووژل،شمس الدین له برېښانو سره د جګړې تا بیا وکړه .فتح خان او دده ملګرو د شمس الدین له پوځ سره دولس ورځې پرله پسې جګړه وکړه ،د شمس الدین پوځ ته ډیره مرګ ژوبله واوښته شمس الدین له خپلو مصبدارانو سره تر سره سلا ورروسته فتح خان ته دروغې جوړوې وړاندیز وکړ اوله دوی یې و غوښتل چې ټول

دده دربارته ورسې او سوله سره وکړي ،فتح خان ومنله خو کرمي و نه منله په پای کې يې پر يکړه وکړه چې نيمايي ياران به له فتح خان سره دشمس الدين دربار ته ځي او نيمايي نور به له کرمي سره پاته کيږي چې فتح رهي کيده کرمي ناره پرې وکړه :

فتح خان باور مه کړه ،د

مغول په کلا مونه

د مغول اول کلام پسې تيپونه

هغسې وشول شمس الدين د فتح خان او د هغه دملګرو لا سونه وتړل.خو کرم خان يا کرمي هوښيار سړی وه په دوی پسې راوتلی و،چې

وېې ليدل د ملګرو لاسونه يې تړلې دي پر مغول
يې ناره کړه :

اوس به جوړ کړم د مغولو پرسرڅلي
چې تړلي يې فتح خان نازک لاسونه

ټولوتورې راوايستې،ډير مغول يې ووژل او خپل
ملګري يې ټول را خلاص کړل.
له دې وروسته به هره ورځ سخته جګړه کيده
هره ورځ به يو يا دوه بړيڅان زخمی کيدل با
شهيدانيدل په پای کې فتح خان ،کرم خان او
څوتنه نور پاتې شول.
فتح خان سخته جګړه کې داناره کړه:

هندوستان مې د مچيو ګبينی دی
هر څو چې يې وهم نه تماميږي

دشپيتو بړيڅو ورځ په ورځ كمی دی

**د نكل دغه ناره متل شوه اوس چې په كومه ډله**
كې كومه كمی راځي نو خلك دامتل وايي:
**دشپيتو بړيڅو ورځ په ورځ كمی دی**

# که مرگ غواړې کندز ته ولاړشه

# هر ښار ځان ته ده خواجه لري

دکندهار ښار په ختيځ کې د شپږمې ناحيې اړوند يوه سيمه، (ده خواجه) نوميږي ددغې سيمې اوسيدونکي ډير با جرآته خوله ور او حاضر ځوابه خلك دي . که څوك کومه خبره ورته وکړي په همغه شيبه کې قانع کوونکی ځواب ورکوي .دوی په همدې صفت مشهور دي .

كه ځوك د چا دكومې خبرې په مقابل كې
قانع كوونكې خبره وكړي او يا كوم ځوك
په كومه معامله كې د خپل منطق په قوت
بريالي شي نو وايي چې هر ځاى خپل ده
خواجه لري.

# چې دلته داسې حال دی
# په لندن کې به څه حال وي

د هیواد د خپلواکي په جګړه کې د افغانستان ټولو خلکو برخه لرله او د جګړې په مختلفو جبهو کې له انګریزانو سره جنګیدل ، د هغه وخت دیوې سیمې طالبانو یوه بیله جبهه جوړه کړې وه .

دوی يوه ورځ دکلي يوه پخوانۍ او زړه ونه چې منځ يې ګوګ و ، ووهله د ونې منځ يې نور هم تش کړ او توپ يې ترې جوړ کړ و د ونې منځ يې له باروتو ډك کړ .
 د ونې خوله يې د لندن په لوري و ګرځوله ،ټول طالبان پرې را ټول شول باروتو ته يې اور ورته کړ باوتو انفجار وکړ او ونه وچاوديدله . شاوخوا دوړې او دودونه پورته شول . يو شمير طالبان او ملايان پکې ټپيان او شهيدان شول ، يو نفر چې سخت ټپي و تر ځنګ پروت يوبل ټپي ته په زګيروي او عين حال کې خوشحاله انداز وويل : ملا فلانی اخونده وګوره چې دلته داسې حال دی نو

**په لندن کې به څه حال وي يعني چې موږ يې دومره مړه کړو په لندن کې خو به يې ټول سټ کړي وي . وروسته له هغه دا جمله متل شوه.**

## عزرايله وروره روغ او ناروغ پيژنه

**په يوې کونډې خپل يواځني زوی تر ايمان هم ګران وو.که به دهغه په سر هسې درد شو ددی ويش – واخ به تر آسمانه وختل . يوه ورځ يې د زوی تبه وه دايې سرته ناسته وه او په لوړ آوازيې ويل:**

وی۔ زویه ستا بلا دی خدای پرما کړي ستا پرځای دې خدای ما واخلی او .........

د کونډې دا خبرې ددوی په ګاونډ کې یوه زلمی  واوریدلې اودې ته حیران شوچې کونډه په زوی څومره بی حده خوږیږی آخر زلمی ته دا فکر ورولویده، چې راځه د کونډې فداکاري امتحان کړه .نو په همدې خاطر ورو غوندې د دوی بام ته ورپورته شو .د بام درڅی (دریچه) ته یی خوله ورنږدې کړه او وې ویل : بلانی۔ ترورې!

دی وویل څوک یې ؟ زلمی ځواب ورکړ چې ستا دعا خدای قبوله کړه خدای پاک زه استولی

يم چې د زوی پر ځای دې ستا ساه واخلم هله ژر کوه ځان د آخرت سفر ته برابروه !

دی وويل ته په رښتيا عزرايل يې ؟ هغه ځواب ورکړ چې عزرايل نه يم نوښوک يم هله ژرکوه د ټوکو وخت نشته ځان چمتو کړه .

په کونډې د ژوند مينې غلبه وکړه مرګ ته يې ځان تيټ نه کړ او په خوله يې ورته وويل :

عزرايله وروره روغ او ناروغ وپيژنه !

## چې بیګاته وې حیران ،څه به وساتی فیلان

ددې جملې د متل کیدو کیسه څه ډیره پخوانۍ نه ده . هسې وایې چې نایب السلطنه نصرالاخان مرحوم به ژمی په جلال آباد کې و، یوه ورځ یوه ډله طالبان د صحبت غوښتلو په عرض ورغلل

نائب السلطه پنځه روپۍ ورکړې طالبانو وويل ( صاحبه دا پنځه شپږ روپۍ چې هر خان ته ورشو راکوي يې . تاسو پاچايان ياست . د شاهانو او شهزاده ګانو بخښنه بايد شاهانه وي

نايب السلطنه وويل : شاهانه بښنه څه وي؟

دوی ځواب ورکړ (پاچايان فيلان يا هاتيان بخښي)نايب السلطنه هم سمدستي امر وکړ چې دوی ته يو غټ فيل ورکړل شي طالبان په دې غير مترقبه بخښنه خوشحاله شول او فيل يې په درب ودروب راون کړ .

د ليرو او نږدې سيمو طالبان او ملايان چې خبر شول د فيل د ليدلو او دوی ته د مبارکی ويلو لپاره ډلې ډلې ور روان شول . طالبانو به چې

څه ټوک ډوډۍ د وظيفې په توګه راټوله کړې وه ، هغه به ايله د فيل يوه مړۍ(ګوله) شوه . د ځانو او مېلمنو د پاره به مجبور وو چې بله سرشته ونيسي . دوی له يوې خوا له سبقه وتلی وو ، له بلې خوا يي خرڅونه له وسه تېر شول او بله لا دا چې فيل په شاهي اخور اموخته شوی وو د طالبانو په وچ ټوک ورځ په ورځ کمزوری کېده . طالبانو له مجبوريته فيل بازار ته وېوست ، خو چا په ټنګه هم نه غوښت . په خانانو ملکانو يي وګرځاوه . هغوی هم د فيل د ساتلو توان په ځان کښې ونه ليد . اخر يي مصلحت په دې شو چې فيل بېرته نائب السلطنه ته ورورې . دوی فيل وروړو او عرض يي وکړ

جې مونږ د فیل له ازاره وېرېږو ځوک چې د بېګا ډوډۍ ته حیران وي هغه به فیلان څنګه ساتي . فیلان له شاهانو سره ښایي که يي بېرته واخلې دا به مو لوی احسان وي .
نائب السلطه وویل : زه فیل تر پنځه روپۍ جګ نه اخلم . هغوی پنځه روپۍ هم غنیمت وګڼلې او فیل يي بېرته نائب السلطه ته ورکړ،خو له کیسې څخه يې متل جوړ شو .

.

## من خورم چارک ګټم ،مورې اوسم که درځم

په پخوا زمانه کې به خلک د ګټې وټې لپاره هندوستان ته تلل. يو تن غزنيوال هم په همدې نيت د هندوستان مخه وکړه او کونډه مورېې خپلې ګټې ته منتظره کينوله .

له څو کلونو وروسته یې مورته لیک راوستاوه چې خپل حال یې پکې داسی بیان کړی وو (من خورم چارک ګټم مو رې اوسم که درځم )
له هغه وروسته دا جمله پسې متل شوه.

.

## په سترګو وینې په زوی لوړې

یوه‌سړی د چا له رمې دوه درې وري راغلاکړي ول، د رمې خاوند پل پسې راواخیست د غله کور یې پیدا کړ او خپل وري یې د هغه په وریو کې وپیژندل.

غله چې له غلا ځان خلاصول غوښتل نو په لوړ
اواز یې وویل :

– ما به څه رنګه پردی وری غلا کاوه ،زوی
مې دې مړ شې چې پردی وری غلا کومه ددې
زوی په سر که ما غلا کړی وي د مال څښتن
ورته هک پک شو او په حیرانتیا سره یې وویل
په سترګو وینې په زوی لوړې.

# نیکي سین هم نه وړي

هسې وايي چې د یوې کوترې ځاله د یوه داسې کمر په غاړه وه چې په بیخ کې یې سین بهیده . کوترې به تمامه ورځ د خپلو بچوړو لپاره دانې مانې راټولولې بچونې یې په ګیډه ښه ماړه او ددنیاله هره غمه بیغمه وو.د کوترې بچوړو چې لږ څه سترګې خلاصې شوې او شاوخواته یې

لیمې وغړولې نو د مور دې عادت ته حیران
شول چې هغې به ددوی له خوړو ځنې څو دانې
هره ورځ سین ته اچولې .یوه ورځ یې بچوښو
ورڅخه ددې کار وجه وپوښتله هغې ورته وویل:
بچو!یوازې ځان ساتل او مړول ضرورنه دي
بلکې نیکي کول هم ضرور دي بچو یې په
تعجب سره پوښتنه ځنې وکړه چې له اوبو سره
نیکي کول څه معنا لري ، مور یې ورته وویل :
نیکي له هر چا او له هر څه سره ښه ده .
له دې خبرو څو ورځې وروسته یوه ورځ چې
کوتره په ځاله کې نه وه یو مار ددوی ځالې ته
راپورته شو . بچوښو یې د الوتلو کوښښ وکړ
خو یو هم د الوتلو قابل نه وو.ټول په سین کې

ولویدل.په سین کې کبانو وپیژندل چی دوی د هغې مور بچونې دي چې هره ورځ به یې سین ته دانې رااچولې کبانو ته د هغې نیکي سترګو ته ودریده د کوترې بچوني یې ساحل ته راوایستل او له لاهو کیدو یې وژغورل .

ماښام چې کوترې دوی د سین په غاړه وموندل او د کبانو د نیکۍ کیسه یې واوریده نو بچیانو ته یې وویل:

اوس خو پوه شوئ بچیانو چې نیکي سین هم نه وړي .

# ارمان افغانستان

# یوه سترګه دوه کسان

وايي یو وخت یو سړی له بله وطنه د افغانستان د لیدلو لپاره راغلی و .
دی د افغانستان مختلیفو سیمو ته ولاړ او ددې هیواد دښکلا ننداره یې وکړه .دده

**دافغانستان طبعي منظرې ډيرې خوښې شوې ، خو دافغانستان په وروسته پاتې والي يې افسوس كاوو ، چې دومره ښكلى وطن ولې دومره وروسته پاتې دى.**

**دغه سړى د هيواد دمنظرو په سيل بوخت و ، چې دې وخت كې دوه كسه نور هم راغلل په دغو دوو كسانو كې يو په دواړو سترګو ړوند و او دابل په يوه سترګه ړوند و ، دې سړي دا بل ړانده ته د منظرو په اړه معلومات وركول .**

**بهرني سړي فكر وكړ چې دا ښكلى وطن وګوره او دا وګوره چې په دوو كسانو يوه**

**سترګه لري . نو هلته یې افسوس وکړ ویې**
**ویل :**
**ارمان افغانستان ،یوه سترګه دوه کسان**
**چې بیا دا خبره پسې متل شوه.**

# داپکې و او داپکې نه و

**د دې متل د کیسې د پیښیدو زمانه هم څه ډېره پخوانی نه ده هسې وایي چې د امیر عبدالرحمن خان په زمانه کې چاخزانې ته لاره کړې وه .**

تورن یې پاچا ته راووست . هرڅو چې یې وواهه اقرار یې نه کاوه . هغه به دهر ځل وهلو په پای کې صرف دومره ویل : داپکې و .
پاچا امر وکړ چې ( تېل داغ ) کړي په (تېل داغ) هم اقرار نه شو او یوائې دا خبره یې له خولې راووته چې ( داهم پکې و.) له دې خبرې پرته یې بل څه له خولې ونه وتل .
پاچا ډېر په قهر شو او امر یې وکړ چې توپ ته یې وتړي . تورن چې د پاچاامر واورېده نو ویې ویل :( دا نه و پکې)
امیر ترې پوښتنه وکړه : ماچې وهلې تا ویل : (دا و پکې) چې په تیلو کې د سوځولو امر مې وکړ تا ویل : (دا هم پکې و) چې د توپ امر

مې ورکړ تا وویل : ( دا نه و پکې ) د دې خبرو مطلب څه دی؟

تورن وویل : اوس خو مې بې اقراره هم وژنې ښه به وي چې حقیقت درته ووایم . حقیقت دا دی چې زه لوږې ، تندې غلا ته اړ کړم ، د خوار غریب په مال مې زړه ونشو . شاهي خزانې ته مې ملا وتړله . په دې ښه پوهېدم چې که ونیول شم نو وهل ، تړل ، دا غول، قین فانه هر څه پکې راځي . دا ټول تکلیف مې مخکې ترمخکې منلی و، خو دا فکر مې نه وو کړی چې که مې اقرار ونه کړ ته به مې توپ ته تړې . امیر ته د ده خبرې خوند ورکړ ، ازاد یې کړ او له کیسې یې متل جوړ شو .

## د کانګړې په ډب کې لاړې بته ګرامه

کانګړه او بته ګرام د پېښور په دوابه کې د دوو کليو نومونه دي . پخوابه په کانګړه کې هندوان هم اوسېدل چې پښتنو ته به يې همېشه ستر ګې

وې . یوه شپه له شپو نه څوتنه غله په دې نیت
راوخوځېدل چې کانګړه لوټ کړي ، خو تیاره
ډېره زیاته وه . شپې پسې واخیستل او د
کانګړې په ځای بټه ګرام ته ورتېر شول . غلو
بټه ګرام لوټ کړ. او وروسته چې خلکو ته د
هغوی د اصلي نیت پته ولګېده نو د بټه ګرام د
غلا له پېښې برنی متل جوړ شو .

**که حال وایمه نو بې بې مې وال ( وهل ) خوري**
**که پټه خوله یمه بابا مې مار خوري**

د دې متل د ابتدا په باره کې ویل کیږي چې یو
وخت یوه ښځه او مېړه پخپلو منځوکې سره
وران شول . د دوی اختلاف ورځ په ورځ

زياتېده او ان خبره دې ته ورسېده چې د مېږه په غياب کې ښځې ورته مار پوخ کړ . د مار په کيسه د دوی زوی پوه شو او چې کله يې پلار راغی او مور يې ورته دسترخوان وغوړاوه ، نو هلک له ځان سره وويل :

که حال وايمه بي بي مې وال خوري که پټه خوله يمه بابا مې مار خوري .

## وټی خوار تر چاشي

يونيم سړی ځان ډېر بوخت او ستومانه ښيي او په دې تظاهر کړي چې د ټولو خلکو د غمونو بار د دوی پرسردی . برنی متل د همداسې کسانو لپاره استعماليږي او کيسه يې داسې ده

چې پخوا د غزني په قره باغ کې د ( وتي ) په نامه يو سړی و، چې د بازار کلانتري ورپه غاړه وه . وتي به تل سترړی ستومانه ښکارېده شپه ورځ به لالهانده و، کارېې چاته نه معلومېده خو په ستړيايې هرڅوک خبر و .چې کله به چا د ده ځورول غوښتل نو د نوي کلانتر د ټاکلو خبره به يې وکړه او دې يوې خبرې به بيا په وتي خوار څوارلس کلي غوښتي ول .

د ټوکمارو دې لوبو هغه خوار دې ته اړ کړی و، چې د حفظ ما تقدم د پاره هر وخت د کلانتري بې ګټې اما له مسؤوليته ډک کار وغندي او ځان د دې درنې دندې په ساتنه کې مجبور وښئي .

هغه به همېشه هر چاته ویل :
وروره ! څه وکړم وتې خوار ترچاشي ؟ حاکم
وایي : کلانتره مامور وایي :کلانتره ، خان وایي
: وتیه ، غریب وایي وتیه د هر چا غرږ تر وتې
دی ، وتې خوار ترچاشي .

## کتابونه دریابونه دي

په هند کې یو پښتون د ماښام له جمعې وروسته
جومات ته ورسېده په لمانځه ودرېد څوتنه نور
راغلل او په ده پسې یې اقتدا وکړه . د مقتدیانو
شمېر د سترګوپه رپ کې لسګونو ته رسېده

دی چې په جهر قرائت کولو ته مجبورشوی و، په لومړي رکعت کې يي په الحمدلله پسې قل هو الله احد ولوسته خو په دويم رکعت کې حيران شو چې څه وکړي . په همدې حيرانی کې يي بې اختياره دا لنډۍ له خولې ووته :

جدايي راغله لارې دوې شوې — جدا جدا به سره ځو ويشتلي زړونه .

چې لمونځ ختم شولنډه دعا يې وکړه او روان شو . په مقتديانو کې څوک شکي شوی و ، دی يې ترلمن ونيو او ورته يي وويل :

که څه هم تاسې پښتانه ديندراه ياست او تر مونږ هندوستانيانو په دين ښه پوهېږئ خو دا

سوره چې تاسو ولوسته ما ښخي نه وه اورېدلي دا تاسو له کومه را پیدا کړې وه؟

ده ورته وویل :

– کتابونه دریابونه دي په یوه کې به مې لا لوستې وي .

## تر خپل کافر مې جارکړې

دا متل چې په غزني کې ډېر اورېدل کیږي دوه کیسې لري یوه کیسه یې دا ده چې یو وخت په شلګر کې دیوه ملا او امي تر منځ جګړه وشوه . امي به ملا ته د دین او پیر او

مذهب کنځلې کولې . ملا به له ډېره قهره اور
واخیست خو چې په باالمثله کنځلو کفر ته وت
نو خوله به یې پټه ونیوله . امي لا ملاته کنځلې
کولې چې د ملا یو مقتدي راپیدا شو . مقتدي
هم امي ته د دین او مذهب او پیر کنځلې وکړې
. ملا که څه هم په خوله منع کړ او ورته یې
وویل چې کفر ته ووتې ، خو له زړه ځنې
خوشاله وو او بې اختیاره یې له خولې ووتل :
تر خپل کافر مې جار کړې .
په دې متل پورې تړلې دوهمه کیسه هم په غزنې
کې پېښه شوې ده او د وخت په لحاظ په
نولسمه پېړۍ پورې اړه لري .

هسې وایي چې په افغانستان باندې د انګرېزانو د یرغل په وخت کې یو وطن پلوري له پردو لښکرو سره مل شو او دهغو لپاره به یې دافغانانو په تحقیق او محاکمه کې برخه اخیسته . ده په دې غرض چې سبا ته په قوم کې ځای ولري . له خلکو سره ډېره بده وضعه نه کوله او یو نیم به یې حتي د انګرېزانو له پوښتنو ګروېږنو بېخي خلاصاوه هم . خلکو ته چې تر پردو کافرو خپل خائن ښه معلوم شوی و، نو د ده په هکله به یې ویل چې تر خپل کافر مو جار کړې او دا خبره اوس د هر هغه بدسړي په حق کې ویل کیږي چې د خپلوي په وجه چاته ډېر ضرر ونه رسوي .

## توتان د بيار خورې، صفت د پټېوات کړې

بهار او فتح اباد چې عوام ورته پټېوات وايي د افغانستان د ننګرهار په ولايت کې د دوو سيمو نومونه دي . چې لومړی يي د سره رود په

**ولسوالی او دوهم يې د خوږيانو په ولسوالي پورې اړه لري .**

**هسې وايي چې د ( بهار) په کروندو کې يوه بزګر د بلبلې چغار واورېده چې پت پنې وات پت پتيې وات ... يې کول . بزګر داسې فکر وکړ، چې بلبله د ( پتې وات ذکر کوي نو يوې يې پرېښوده ، چوکه يې پسې راواخيسته په قهر يې وويل :**

**بې شرمې توتان د ( بيار ) خورې او صفت د پتې وات کوې .**

**اخر زمان شو ، درې مې راوړه**
**يو ترې روان شو**

**وايي يوه مسافر په بېديا کې څه پخول غوښتل**
**هغه د نغري جوړولو د پاره خوا او شا سترګې**

وغږولې چې څه لوټې ، ډبرې پیدا کړي . هغه
دوه غټې لوټې پیدا کړې خو د دریمې لوټې په
ګومان یې یو ځیزګی یا ځسکی راواخیست چې
دی پرې پوه نشو چې کله یې اور بل کړ،
ځیږګې د اور له تاوه خوځېدو ته اړ شو . مسافر
بیا هم هغه ونه پیژانده او د ( لوټې ) له حرکت
نه یې د تعجب اظهارداسې وکړ:
اخرزمان شو درې مې راوړی یو ترې روان شو
.

**مورږک د سوړې د ننوتو نه و،**
**چې چج يې لا په لکۍ پورې وتاړه**

هسې وايي چې يو وخت موږ کانو د خپلو حقوقو د ساتنې لپاره غونډه وکړه . په غونډه

کې يې فيصله وکړه چې د ځان ساتنې لپا ره بايد يو پاچا ولرو او دهغه اطاعت وکړو . مورږکانو خپل پاچا وټاکه خو ددې لپاره چې له نورو جدا نخښه ولري يو چج يي په لکۍ پورې وروتاړه .
مورږکان د خپل پاچا د درناوي د پاره د هغه شا او خوا راټول و، چې پيشو راغله . مورږکان ټول په يوه خوا بله خو وتښتېدل او پاچا چې لکۍ يې په چج پورې تړلې د غار په خوله کې بند شو او پيشو وواژه .وروسته له هغه دا متل وشو چې مورږک په غار نه شوای ننوتلای چج يې په شا پورې تړلی و.

## چاته له ازله ده او چاته له مير افضله

مير افضل په خوربيانو کې يو شرير سړی و، چې د خپل رذالت په وجه يې د سيمې ډېر کسان کړولي او ځورولي و . دا چې ميرافضل د دوی

د کور کلي سړی و او دهغه له لاسه ورپېښ غمونه ورته ازلي او اسماني نه ښکارېدل او له بلې خوا هغه پیدا کړي غمونه په شمېر هم له اسماني غمونو څخه کم نه و، نو خلکو به ویل چې چاته له ازل نه او چاته له میر افضل نه پیښنه ده او له همدې جملې نه دغه متل جوړ شو .

## اوښانو به ژړل خو بورۍ ژاړي

ویل کیږي چې یو وخت په اوښانو باندې بورۍ یا بوجۍ د بار د ډېرښت او درنښت په سبب سورۍ شوې . څاروان چې سورۍ شوې بورۍ

ولیدې نو ویې ویل : اوښانو ژړل خو بورۍ ژاړي .وروسته له هغه ددې سړي دا خبره متل شوه ، هغه څوک چې د لږو سختیو په وخت کې تر هغو نورو چې په ډیر کړاو کې وي خو شکایت دوی ډیر کوي په اړه یې دغه متل ویل کیږي چې :

اوښانو به ژړل ، بورۍ ژاړي.

## سُدم ته شین دی

سُدم دپښتونخوا له بونیرسره نږدې د یوه کلي نوم دی . هسې وایي چې د سُدم یو سړی بونیر ته د خپل اشنا کره ورغی خو د ورتګ په وخت

کې یې بارانونه شول او همغلته پاتې شو . د مېلمه ځنډېدا په پردې کور کې ډېره اوږده شوه ، ځکه نه اسمان شین کېده او نه ده دا بهانه هېروله .

یوه ورځ چې کوربه له بهره د مېلمه کوټې ته راغی نو مېلمه د اسمان پوښتنه وکړه هغه خوار چې ډېر ورسره په تنګ شوی و ، نو بې اختیاره یې وویل :

سُدم ته شین دی .

**له چې دی نه به وا نه ورم چې دی که مې سر**
**په چې دی لاړ شي چې دی**

چې دی د یوه سړي د خبرو تکیه کلام و . هغه به په هروو دوو – درو جملو کې دوه ، دری ځله چې دی چې دی تکرارا وه چې د

اورېدونکو په غوږونو طبعاً ښه نه لګېدو یوه ورځ چا ډېره په ټینګه ورته وویل چې دی به نور نه وایي خو د ده عادت نه په بله کېدو . هغه هم د پرېښودو وال نه و . سړي ته یې د ډېرو منع کولو په وجه غوصه ور وسته او ویې ویل :

له چې دی نه به وانه وړم چې دی که مې سر په چې دی لاړ شي چې دی .

# له خپلې شړۍ سره سمې پښې غځوه

معلومه نه ده چې دغه کیسه څه وخت او
دکوم پاچا په وخت کې تیره شوې ده ، خو
وایي چې د وخت پاچا به په ښار کې
ګرځیده د خوارو او بیوزلو کسانو حال به یې

پوښته که به پوه شو چې دا سړی واقعآ بیوزله دی نو له هغه سره به یې مرسته کوله .
یوه ورځ دغه پاچا د ښار په دوره راووت ژمی و، ډیره یخني وه څو تنه غریبان ناست ول . یو سړی چې ډیر حریص و ددې لپاره چې د پاچا پام ځانته واړوي شړۍ یې په ځان راسمه کړه او ددیواله خواته کیناست ، ددې لپاره چې پاچا یې ووینې او مرسته ورسره وکړي، پښې یې ښې وغځولې او تر شړۍ یا کمپلې یې را وایستلې .
پاچا چې راغی ویې لیدل چې دا سړی شړۍ لري خو پښې یې ترې ایستلې دي ، پاچا توره را وایسته د سړي دواړه پښې یې غوڅې

کړې ويې ويل چې دې سړي پخپله برخه قناعت نه دی کړی کولای يې شوای په شړۍ کې پښې او ټول ځان پټ کړي خو دی حريص و . بايد پښې يې غوڅې شي چې له شړۍ يا کمپلي سره برابرې شي ، له هغه وروسته دا خبره متل وګرځيدله.

## څوک يي؟ د زرجانې زوي ! لاړې پکې

د دې متل کيسه د ننګرهار په روداتو کې پيښه شوې ده . داسې وايي چې يو وخت د دوو کورنيو سره بدي وه . په بدي کې يې د يو بل ډير سړي سره وژلي او ډيرې ښځې يي بورې ،

وراړې او کونډې شوې وې . د یوې کورنۍ یوه کونډه زرجانه نومېده چې له خاونده بس یو زوی ورپاتې و . څرنګه چې مور یې خوله وره او تکړه او دی بالعکس بې خولې او بې کاره و نو د مور په نامه مشهور شوی و او خلکو به د زرجانې زوی باله . د زرجانې زوی ته د ساده ګی په وجه کورنۍ بدی مهمه نه ښکارېده . تر نیمو شپو به په مېلو چړچو پسې بهر وتلی و . اخر یوه شپه د ښمنانو ورته لاره ونیوله . څرنګه چې تیاره وه ، نو هغوی به له هر لاروي نه پوښتنه کوله چې څوک یې له ده نه یې هم پوښتنه وکړه : څوک یې؟ ده ساده بې له سوچه ځواب ورکړ :

د زرجانې زوی ! یوه دښمن یې سمدستي ورنارې کړې : لاړې پکې ! او د ټوپکونو خولې یې ورواړولې .

## تهار وخوړه کهی که دا تهارژوندی وي بیا به نه ځي په غدی

په پخوا وختونو کې په لوګر کې تهار نومی یو سړی و، چې پردو کورونو ته به ورلوېده ، غلا وې به یې کولې څرنګه چې ده کله په سر نه وه خوړلې او په غلا غدیو کې کله نه و، شرمېدلی نو حلالې ډوډۍ خوند نه ورکاوه . همېشه به دنوې غلاپه تکل کې و .
د خدای کارونه دي ، یوه شپه له یوه غله سره د چا کره ورولوېده . د کور خاوند یې په څرپ راویښ شو ، کهي یې پسې راواخیسته او تهار یې په کهي په سر وواهه . تهار چې کله هم

داسې بد نه و، پرځېدلی وار پاريي خطا شو او له وارخطايي يې پر ملګري داسې ناره وکړه :

تهار وخوړه کهيی ، که دا تهار ژوندی وي بيا به نه ځي په غدی . د تهار سوې ناره د نورو ډېرو نارو په څېرچې هيريږي هېره نشوه او دمتل په بڼه د هغه چا لپاره ويل کيږي چې يواځې خپله ترخه تجربه يې له بدې لارې راوګرځوي .

# د انسان سترګې بې له خاورو نه مړیږي

هسې وايي چې يو وخت په ننګرهار کې يو رسېدلی او صاحب حال سړی اوسېده . نو هډوکی يي ومونډ او وايي خيست او سره زر يې پرې کېښودل . خو د هډوکي سر په سرو کې پټ نشو . ده دوباره سره پرې کېښودل او دا ځل هم د هډوکی يوه برخه لوڅه پاتې شوه او دريم ځل چې بيا دا کيسه تکرار شوه نو غيبي اواز پرې وشو چې دا دانسان د سترګې هډوکي دي ، دا پرته له خاروو په بل څه نه مړيږي . ده له غيبي الهام سره سم په څلورم ځل اول په هډوکو خاوره واچوله او بيايي په زرو

کې ونیوه . دا ځل هلکانو کې ټول په زړو کې ونیول شو . وعده یې پوره شوه او له دې پیښې متل جوړ شو .

# اوبه له پاسه خړې دي

**ددغه متل کیسه تاریخي شالید لري چې له بلې ژبې څخه را ژباړل شوې ده.**
**اموي خلیفه ګان ټول څوارلس تنه ول چې له ۴۱ څخه تر ۱۳۲ هجري پورې یې په پراخه اسلامي خاوره خلافت چلولی دی .**
**سره له دې چې ددوی په منځ کې د معاویه او عبدالملك مروان غوندې محیل او با تدبیره کسان ول خو یو یې هم په تقوا او بشر پالنه کې خپل سیال اتم خلیفه عمر بن عبدالعزیز ته نه رسیدل . دغه خلیفه ټول اسلامي اصول مراعاتول او د خلافت دوره**

يې د عدل او انصاف دوره وه ، ساده ژوند يې درلود او د خپل ورځني لګښت لپاره يې تر دوو درهمو زياتې پيسې له بيت المال څخه نه اخيستلې .

يوه ورځ دغه خليفه له شامي عرب څخه وپوښتل : زما کسان ستاسې په سيمه کې څه کوي ،چلند يې څنګه دی ؟

هغه په موسکا ځواب ورکړ :اوبه چې له ورخه رنې او صافې وي په ويالو کې به هم رنې اوبه راځي اوبه تل له سرچينې څخه خړيږي .

عمر بن عبدالعزيز د شامی عرب له ځواب څخه ډير سبق زده کړ.

ځینې بیا دغه خبره د یوناني حکیم ارسطو
بولي ، ځکه هغه ویلي دي ( پاچا د سیند یا
دریاب او د دولت نورې څانگې د ویالو په
څیر دی چې له سینده را جلا کیږي )
یو شمیر نور بیا دا خبره د افلاتون بولي چې
ویلي یې دي :
( پاچا له د ډیرو اوبو لویه ویاله داسې دی ،
چې په وړو ویالو ویشل کیږي که د لویې
ویالې اوبه خوږې وي د کوچنیو ویلو اوبه
به هم خوږې وی ، که دلویې ویالې اوبه
ترخې وي د وړو ویالو به هم ترخې وي .
خو شیخ فریدالدین عطار بیا دا خبره د ابو
علي شفیق بلخي بولي چې د کعبې نیت یې

**کړی و او بغداد ته ورسیده ، هلته هارون الرشید ور وغوښت ورته ویې ویل : ما ته پند راکړه .**

**شفیق د حکیمانه وعظ په ترځ کې ورته وویل :**

**- ته سر چینه یې او**
**ستا عملونه ویالې ،**
**که د سرچنې اوبه**
**رڼې وي د ویالې به**
**هم روښانه او رڼې**
**وي .**

**په هر صورت دا خبره که د هرچا وي لومړی په عربي او بیا زموږ ژبې ته راغلې**

ده .په افغانستان كې دا متل په دوه ډوله

ويل شوى .

اوبه له ورخه خړې دي

اوبه له پاسه خړې دي .

# په عمر کې  دې یوځل شکوم
# هغه بیا کاکو ماما شم

غلولار نیولې وه  .کرۍ ورځ څوک لاروي ورباندې پېښ نه شول،ماز دیګر مهال د نږدې کلي یو اشنا په مخه ورغی غلو په خپل منځ کې سره وویل :چې مولونه مووهلي دي څه مو پېژني،سپک لاس به پرې تیر کړو . سړی یې ونیو او پنډه یې ترې کوزه کړه یو کس غل یې په جېبو نو باندې توش شو.په دې وخت کې مسافر غل و پېژانده او ورته و یې ویل:
ته هغه کاکو ماما نه یې؟

**غله ورته وويل:هيسته ،خوار شې په عمر کې دې يو ځل شکوم هغه بيا کاکو ماما شم.**

# دتو کليا نو څلی د ځنګله ها غاړه وي

يو وخت يو غله خپل يار ته وويل :چې راځه توکل وکړو .
هغه ورته وويل د څه شي توکل ؟
ده ورته وويل چې د ځنګله ها غاړه (د ښار خواته )به غلا وکړو،ملګري ته يې دارنګه تو کل خوند ور نکړ او له اند يښنې نه په ډکه لهجه يې وويل:د تو کليا نو څلی د ځنګله نه ها غاړه وي .

# اکا یې په یوه هګۍ نه ډېر وي

یو ممسک سړی چې په عین حال کې خېټور وو،اوسپوره یې نه تېریده ،شکنې ته یې وکتل او ښځې ته یې وویل:

یوه بله هګۍ هم پکې ماته کړه .ښځې ته یې چې دده خسیس طبیعت معلوم ورته ویې ویل: یوه هګۍ خو پکې نشته ،ممسک چې په خپل خیال دلومړي ځل دپاره داصراف کولو خوند اخیست ،هغې ته په ډېره غرور وویل :

اکا یې یه یوه هګۍ نه ډېر وي ، چې وي ،ښه دې وي .

# چې په خندايې خورې دا بله هم درواخله

یوه شپانه پیتاوي ته چاروغې غوړې کړې وې ،ګېدړه راغله یوه چارو غه يې ترې وتښتوله ،چوپان لکړه پسې راواخیسته ګیدړه مخ ته شپون ورپسې ها ها ،څوګېدړه په غار ننوته،چوپان د غارله خولې په لکړه چغ وهله ،ګیدړې داړې ورته جینګی کړې.چوپان هغه بله چاروغه هم ورو غور ځوله او ورته يې وویل: وا خله چې په خندا يې خورې دابله هم در وا خله .

**یادونه:چا ورغه یو قسم پای پوش ده چې له څرمنې جوړېږی او شپا نه یې په ژمي کې په پښو کوي .ځینې خلک ورته سو ګلې هم وايي.**

# شوی په غزني ،سابرو کور سپنی غړي

د سابر و نومې ښځې خاوند غزني ته تللی و او ښځې ته يې يوه نیمګړې وعده ورکړې وه چې شوی ( یو ډول رخت ) به درته راوړم .سابرو د ګنډلو په طمعه لګیا وه،سپنسي يې مزي کول .نورو ته دا کار عجیبه معلوم شو او دا خبره پسې وشوه چې شوی په غزني ،سابر و کور سپنسي غړي .

# ټوپ كړي نه ټوپ كړي

پخوا به چې طبيبا نو چاته جولاب وركول نو دا به يې هم ورته ويل چې له ويالې به ټوپ نه وهې.

يوه ساده سړي چې جولاب كړي ول ،پام يې نه و، له ويالې يې ټوپ كړ چا ورته وويل څه دې وكړل لكه چې د ډاكټر خبره دې هيره شوه ، ده بيرته بلې خواته را ټوپ كړ او ويې ويل:
ټوپ كړي نه ټوپ كړي.
چې وروسته دغه خبره په متل بدله شوه .

# بخت چې دې بيدار شي،ګوبی به دې

## عبدالغزيزشي

ګوبی د غزني په يوه خواره کورنۍ کې د يو ه هلک نوم و.د ګوبي له رالوېيدو سره يې پلار ډير ې روپۍ پيدا کړې او شته من شو.د ګوبي پلار ته د ژوند د نيمګړتياوو د پوره کولو په سلسله کې د زوی نوم د بد لولو فکر هم پيدا شو ملا يې را و غوښت او ورته يې وويل :چې په زوی مې يو کتابې نوم کېږده ، ملا يې د زوی

نوم ور عبدالعزیز کړ. کلیوالو ته دا بدلون دښه بخت یو ښه مثال ښکاره شو او دا خبره یې پسې وکړه چې بخت دې چې بیدار شي نو ګوبی به دې عبدالعزیز شي.

# ورادې راغله پکې ،
# دا ګومان مې نه کېږي ادکې

هسې وايي چې يوه پکه پېغله وه چې د مېړه له موند لو يې اميد ختلی و، خو يو وخت يې بخت بيدار شو ،څوک يې غوښتلو ته را غله چا پکې ته وويل چې غوښتلوته دې څوک را غلی دی . دې ورته وويل چې ګومان مې نه کيږي ، زيری پرې وشو چې کوژ ده دې ده .

خو دې بيا هم وويل چې ګومان مې نه کېږی.څو مياشتې وروسته يې چې واده برابر شو

او ورایې راغله نو یوې بو ډۍ غږ پرې وکړ چې
وړاندې راغله پکې !خو پکې خوارې چې ډیر
کلونه په نا امېدۍ کی تېر کړی ول اوپه آسانه
بې امید زړه ته لار نه کوله ورته وویل:
داګومان مې نه کېږی ادکې .

# د نورو یې له نورو د موږک یې له بنۍ

هسې وایي چې د ګیدړې ،موږک او یوه سپي سره یارانه شوه .دوی به د ورځې په مخ هريو پخپل کار پسې وتلی و، خود شپې لخوا به پخپل ګډه کور کی سره یو ځای شوو او د خوب تر وخته پورې به یې یو بل ته دو رځی کیسې کولې .
د ګیدړې او سپي په کیسو کې به بنیادمان ،حیوانان ،کلی ،کورونه ،بېدیاوې او کروندې،مطلب داچې هر څه شامل و، خود

**موږک خبرې به ټولې د بنۍ په هکله وې،ګیدړې او سپي ته به د موږک تکراري کیسو هیڅ خوند نه ورکاوه،مګر د یارۍ په خاطربه یې اوریدې او اعتراض به یې باندې نه کاوه.**

**یوه وخت داسې وشوچې سلاب راغی کلي ،کروندې او بېدیا وې او بو لاندې کړې او ډېر خلک پکې مړه شول د سېلاب په ورځو کې سپي او ګیدړې هم ډېرې لوږې تېرې کړې او د موږک خوار خو مړاوږوند بېخی ورک شوی و، سپي او ګیدړې پخپل ورک یارپسی شپه ورځ ژړل او نور یې د شپو په کیسو کې د موږک له ویر پرته بله خبره نه وه .**

په همدغو غم لړلو شپو کی یوه شپه دوی په خپل غارکې سره ناست و، چې موږک راغی د موږک پیداکېدو دوی دومره خوشاله کړل چې ټوله شپه یې و یښه تېره کړه په سبا ماښام چې بیا سره یو ځای شول نو ګیدړې او سپي له موږکه وغوښتل چې د سیلاب د شپو کیسه ورته بیان کړي ، موږک وویل:

زه داوړو په بنۍ کې وم چې داوبو غږ مې واورېده یو وخت مې پام شوچې څوک بنۍ خوځوی او په لوړ ځای کې یې ږدوي .ماښام چې رالنډ شو ، له بنۍ راووتم خو ځمکه لمده وه ،هرڅه ګډ وډ معلومېدل،بېرته بنۍ ته ننوتم شپه مې په بنۍ کې تېره کړه.شکر مې وکړ چې

بنۍ خو روغه وه،هغه شپه او سبا مې هم په بنۍ کې تېره کړه ماښام ته مې له ځان سره وویل چې راځه بله شپه هم دلته تېره کړه .ددويمې شپې په مازدیگرچا په بنۍ کې نور اوړه هم واچول ما د خوشالۍ داوروستۍ شپې هم په خورا بېغمۍ

هورې تېرې کړې.

موږک نور پټه خوله شو ګیدړې ورته وويل:

ښه نور څه حال وو؟

موږک وويل:

رښتيا دا خبره مې هېره شوه چې زما تر راتګ د مخه يې بنۍ بيرته په خپل اصلي ځای کېښودله ،سپي ته موږک په خبره ډيره غوصه ورغله ،

ويې ويل :

ورروسته له دې به مونږ ته د بنۍ کیسې نه کوې
،مورږک ورسره ومنله،په راتلو نکې شپه کې چې
بیا د مورږک د خبر و نوبت راغی نو هغه ته خپله
وعده وریاده شوه،خوچې هر فکر یې وکړ بله
موضوع ذهن ته ورنغله او بخښنه یې و غوښتله
.

# دايوه برخه زما ده،يوه مې د ټوپک ده ، درېيمه ولاکه درکړم

دوه کسه غلا ته سره تللی و، چې يوه يې ټوپک درلود او بل يې تش لاس و،وروسته له غلا سره کېنا ستل او مال يې درې ټوټې کړ.د ټوپک خاوند وويل:
دا يوه برخه زما دغه بله مې د ټوپک .درېيمه طبعاً دهغه بل وه خودنيا بد شی ده،وروسته له څه سوچه يې زيا ته کړه :
دادر ېيمه نوولاکه در کړم.

# خدای خبرچې ښو ته ورک دی که بدو ته

له کډوالو سره يوهندو هم ملګری شوی و،
هندو هم يوازې يو د سور لۍ خر
درلود.دکډوالوعادت دی چې له باده پناه په
ايسار ځای کې شپه تيروي په هغه شپه يې هم
چې په ماښام يې دهندو خر ورک شوی وو،په
يوه خوړکې واړل .هندو شا وخوا ته لنډ
وکتل،دخره پته ونه لګېده ،آرام
ځملاست.چاورته وويل:لالا!ولې پسې نه ګر
ځې ؟
ده ځواب ورکړ:

خان خدای خبر دی چې خر ښوته ورک دی که بدو ته .

هغه ورته وویل:

په ورکه کې د ښوبدو خبر څه معنا لري ،ورک دی ، ښکاره ده چې بدوته ورک دی .

هندو بیا ورته وویل:

خان!د خیر له ځایه خدای خبر دی ،خدای پو هېږی چې ښوته ورک دی که بدو ته ؟هغه منت ورته وکړ چې نا مرده غوښتی یې نشې او داخبرې کوې،په ورکه کې به لاښه څه وي ؟

هندو وویل:

ځه که مې لا په دې کې خیر وي.

چې شپه پخه شوه با د را والوت،وربځې ټینګې شوې،تالندې بر ېښناوې شوې اوپه خوړ کې سېل را غی،کله والو منډې کړې ،هسکو غاړوته وختل ،سهار یې چې سترګې سره و غړ ولې،د چا لږ مال د چا ډېر بو ده ګان ضایع شوي و،هر چا ورپاتې شوي کالي په څټ واړول اومخ په پور ته یې مزل شروع کړ،چې لږ بر لاړل د هندو خر به شنو ورشو کې آرام څرېده،هندو تر څټ ونیو چې پښه یې ورباندې وتړوله ویې ویل:

مانه ویل چې خدای خبر ، خر ښو ته ورک دی که بدوته!دادی چې ښو ته ورک و،که ورک نه وای بېګا به تر ګردو له مخه سېل وړی و.

# چېرته هندوان چېرته توتان

یو هندو هم یوه ورځ دوکان و تاړه او د توت خوړلو په هوس د توت ونې ته پورته شو،خوله بده مرغه له ونې را ولوېده ،په خوله ولګیده او ډېرې شپې یې خبرې نه شوای کولی کله چې په خبرو راغی نو د خپلې پیښماني احساس یې داسې بیان کړ:
زمایې څه چې توت خوړلوته مې زړه ښه کاوه،چېرته هندوان چېرته توتان!

## دژمی به لمر مه نازیږه او دد ښمن په خندا

د یو چا زړه و، چې چېرته سفر وکړي ،خو دژمي مخه وه،ورځ به یا اوریا وه او یا به آسمان په وریځو پوښلی و.

هغه به هره ورځ د آسمان دشین کېدو د عاوې کولې،یو سهار چې راویښ شو دعا یې قبوله شوې وه ،په ټول آسمان کې دوریځو نخښنه نه وه،ده نور صبرونه کړ،په آس سپورشو او سفریې پیل کړ،د ماسپښین ترلما نځه پورې

یې پوره په بې غمۍ لار ووهله خو وروسته سیلۍ را والوته،په یوآن کې د آسمان مخ وریځو پټ کړ او واوره په لږ وخت کې دومره ډېره شوه چې هر څه په واورو کې پټ شول ، دی نه پوهیده چې اصلي لاره کومه یوه وه،دبیر ته ستنیدو لار هم ځنې ورکه شوه ،نو رنه و،خبر چیرته ځي او شپه به چېرته تېروي ، د بیرته ستنېد ولارهم ځنې ورکه شوه او د نا معلوم برخلیک په لوریې مزل کاوه ،د ماښام خواته یې نا څاپه په یوې کنډوالې پیښنه وشوه ،په کنډواله کې څو تشې کوټې وې ،یوې کوټې ته له خپل آس سره ور ننوت او د سهار په انتظار پکې څملاست.

په هغه توره شپه کې یې د تو رې کنډوالې له یوې کوټې نه دزګېروی آواز واورېده هغه ډېر ووېر ید ه خو وروسته یې تو کل وکړ،ورپو رته شو او غږ یې وکړ چې څوک یې؟له هغې خوا یې آواز واورېد چې زه یم د خدای بنده دی زړور شو،کوټې ته ورننوت اوویې ویل:
السلام علیکم!له هغې خوا د سلام ځواب ورکړل شو.ده هغې خواته چې غږ ځې را ولاړ شوی ، مخ یې واړاوه ،ویې ویل:
ولې دې زګېروی دی؟
هغه ځواب ورکړ چې لاسونه او پښې مې تړلې دی ،اول دا خلاص کړه،بیا به حال ووایم .دی ورنږ دې شو ، هغه خپله کیسه ورته وکړه چې

ځنګه ورم مازدیګر خپل دښمن غلط کړم
،لاسونه اوپښې یې راوتړلې،په جوال کی یې
واچولم او ځنګه یې دې ځای ته راورسولم .ده
ورته وویل چې په دښمن دی ځنګه باور وکړ،او
داوخت دې ورکړ چې پر تا دا لوبه وکړي؟
هغه ورته وویل:
زه د هغه مکار په خندا تېروتم!
وروسته بیا هغه ځنې پوښتنه وکړه چې ولې دې
دلته شپه شوه او ده چې خپله ټوله کیسه ورته
وکړه په پای کې یې وویل چې زه هم دژمی
لمرتېر ایستلی یم.
سهار ته دواړه په آس سپاره شول،تر ما
شپښین سهار یې یو ځای سفر وکړ او دخدای

پامانۍ په وخت کې د واړو ژمنه وکړه چې دا
خبره به هر چا ته کووچې:
دژمي په لمرمه نازېږ ه او ددښمن په خندا!
دا متل داسې هم ویل کیږي چې :
د ژمي په توده مه نازیږه ، د دښمن په خوږه

# پیسې راوړه تر وې ډېرې دي

هسې هم متل دی ،چې وايي : ماما چې څټ هم ګروی نو د خوريي ورته تمه پيدا شي . خو پخوا چېرته د يوه ګو جر اروا وړی خوري وه چې هر څه يي د ماما له کوره پوره کول غوښتل .

په مامیٔ باندې يي دا سترګ وړې ورځ ښه نه لګېده ، مګر د مېړه په خاطر يي څه نشو ورته ويلی .

**یوه ورځ چې ماما په کور نه وو ، خور یې یې د شلومبو په تمه مامۍ ته ودرېده . مامۍ یې ورته وویل :**

**پیسې راوړه ، تروې ډېرې .**

# په یوه ډله وربرو کې
# نو رجان پروت خاورو ایرو کې

ویل کیږي چې نور جان نو می په خوګیاڼو کې یو سپین ږیری و، چې ډیر او په عین حال کې تکړه وربرونه یي درلودل خو د ده ژوند خراب و، له وربرو نه ګیله من او همېشه به یي دا موزونه جمله چې وروسته پسې متل شوه په خوله وه :

په یوه ډله وربرو کښې نورجان پروت خاورو ایرو کښې .

# که نر دی هم راوېږي لوشه

يوه نازولي هلک ته به مور همېشه دغوا شيدې ورکولې ، خو يوه ورځ غوا مړه شوه او هلک چې له لوبو کورته راستون شو او له معمول سره سم يي له موره شيدې وغوښتلې نو مور په کيسه خبر کړ چې غوا يې اوس د غريبي له وجې خرڅه کړې ده . هلک غوايي ته لاس ونيوه ، مورته يي وويل :

له هغه شيد ې راته ولوشه .

موريي ورته ووېل چې بچيه هغه خو نر دی ، شيدې نلرې . هلک په سلګو شو د مور خبره

يي ونه منله او په ډېر ټینګار يي ورته وويل چې که نر دی هم راوېې لوشه .

# دبرکلي پخه نه وه
# او د کوز کلي تېره شوه

داسې ویل کیږي چې یووخت یو خواراو وږی چېرته خیرات نه خبر شوی و. د خیرات ځای ته د تګ په لاره کې چا ورته وویل چې په بر کلي کې هم خیرات دی . ده له ځان سره فکر وکړ چې د کوز کلي ډوډۍ خو مې هسې هم خپله ده ، راځه دا د بر کلي ډوډۍ خپله کړه .
اروا وږی برکلي ته لاره ورکړه کړه او د خیرات ځای ته یې ځان ورور ساوه ، خو هلته لا ډوډۍ پخه نه وه . ده لږ څه صبر وکړ ، مګر

ګېډه وربانديې غالبه شوه بېرته يې دکوز کلي لار ونيوه څو چې کوز کلي ته رسېده هغو په ډوډۍ لاس را تېر کړی وه . ډوډۍ تمامه وه . دی سترړی ستومانه ځينې را ولاړ شو او په وېره د بر کلي خواته رهي شو .

# کوکه ورورہ ته غلا کوه زه به قسم خورم

کوک او کوزی دوه غبرګوني وروڼه ول، چې په کړه وړه او بڼه کې د يو بل په څېر وو او سره نه پېژندل کېدل . دوی دواړه د کار کسب مېړونه نه ول . په دې سره سلا شول چې غلا به کوو خو ددې لپاره چې څوک پل ورنه وړي کوزي دابل ته وويل :

کوکه ورورہ ته غلا کوه خو که د چا شک دربانديې راغی يايي وليدلې نو دمااو تا فرق څوک نشي کولی ، ستا په ځای به دا لوړه زه کوم چې ولاکه مې په ټول عمر کې غلا کړې وي .

# پیریانو ته غزني څه وي

یوه د برخې خاوند ته غرمه مهال ډېرزیات مېلمانه راغلل د ده په کور کې سېوا له وچې ډوډۍ نور د خوړو هیڅ هم نه ول . نور کورونه لرې ول . بله لاره یې ونه موندله خپل مطیع پیری یي چې ( مېلو ) نومېده را وغوښت او حال یې ورته بیان کړ . مېلو په سترګې رپ کې داسې خوراکونه حاضر کړل چې نه کوربه کله لیدلی ول او نه مېلمنو کله خوړلي ول .

ده مېلو وپوښت چې داسې خواړه خو په نژدې کلیو کې نه پیدا کیږي دا دې له کومه راوړل

هغه وويل چې دا مې په غزني کې د پاچا له کوره راوړل . مېلمنو چې د مېلو خبره اورېدلې وه ده ته يې وويل :

که څه هم خوراکو نه شاهانه وو خو غزني ته پسې تګ وراتګ د نه منلو خبره ده ، کوربه وويل :

پېريانو ته غزني څه وي .

# خربه مې کونړ ووینې زه به یوه چکۍ صابون راوړم

دا متل په هغه چا پورې ویل کیږي چې خپل ډېر کم اهمیته کار او هدف هم ورته خورا مهم ښکاره شي . د دې متل د ابتدا کیسه داسې ده :

پخوا زمانه کې یو ګرځنده اوسیاح سړی اوسېده چې د خپل خره په شایي ډېر ځایونه لیدلي او کتلي ول . هغه ته خپل خر یو بوده نه بلکې د لارې مل او ملګری ښکارېده او داسې ګومان یي کاوه چې خر هم د ده په څېر د نالیدلیو کلیو

او سيمو له ليدلو خوند اخلي . ده پخپلو ټولو سفرونو کې خر ورسره بيوولی و، خو يو کونړ داسې ځای و، چې ده ليدلی و او خره يي نه . له ده سره په همېشه دا فکر و، چې د لارې په مله باندې کونړ ووينې .

يو وخت په کور کې صابون پکارشو ، ده صابون راوړل بهانه کړل او خريي د کونړ په لور رهي کړ. په لاره چا وپوښت :

څه کوې ؟

ده ورته وويل چې خر په مې کونړ ووينې او زه به يوه چکۍ صابون راوړم . ده خوار که څه هم له زړه دا خبره کړې وه خو خلکو ته يي خبره

**عجیبه معلومه شوه چې د دوو بې اهمیته مقصدونو لپاره دومره اوږد مزل کوي .**

# نه ګله ښه ده نه دابله ،
# سر دې وخوري يو تربله

ديوه سړي دوه ښځې وې او له دواړويي ښه زړه نه درلود . يوه ورځ يوه خپلوان وپوښت چې ګله ( د ده د يوې ښځې نوم و) ښه ښځه ده که دابله ؟

سړی چې له دواړو ميرمنو په تنګ و دا موزونه جمله يې په ځواب کې ورته وويله چې:

نه ګله ښه ده نه دا بله ، سر دې وخورې يو تربله.

چې دا موزونه جمله پسې متل شوه .

# یوه ترور یوه وریره،
# یوه ګله یوه ډیوه

په دې متل پوري چي د دری ددې متل ( تو مرا حاجی بګو مه ترا ملا) معنا ورکوي داسې کیسه کیږي چې چیرته دوه همځولي پېغلې سره ترور او وریره وې دوی به همیشه سره یو ځای ګرځیدې او همیشه به یې کوښښ کاوه چی د یو بل صفت وکړي. ددې ستاینو په لړ کې یې د یو بل د حسن هم ډیر تعریف کاوه او په همدې وجه به ترور وریرې ته ډیوه او وریرې به ترور ته ګله ویله.

ترور او وربره یو وخت چیرته له ورا سره پردي کلي ته تللې وې. د پردي کلي والو چې د دوی په دا یو بل ایښی نومونو ته پام شو نو له هرې یوې یې جلا جلا ددې نوم ښودلو وجه وپوښتله ترور ورته په ځواب کی وویل چې د وربرې می سپین مخ له سپین والی او ښکلا لکه ډېوه ځلېږی نو چې زه دا وینم ، ډېوه را یاده شي او اصلي نوم یې را څخه هیر شي.

وریره چې یې وغږوله هغې وویل نو که می زه ترور په دې ښایست چې دا یې لری ، ګله ونه وایم نور به څه ورته ووایم. د دوی دا خبري چې یوې بوډۍ واورېدلې نو هغې دا نورو ښځو

**ته وویل بس سر مه خوږوئ یوه ترور یوه ورېره ، یوه ګله یوه دېوه.**

# چې سیپو شومه اوس په پوه شومه

په ننګرهار کې یو وخت یو ډېر شته من خان اوسیده چې سیف الدین خان نومیده څرنګه چې سیف الدین خان هم له پلاره نازولی پاتې و او هم یې جایداد ډېر و، نو مصرف یې ډېر زیات کاوه. هغه په څو کالو کې خپل جایداد څه په ښه ځوان توب او څه په ډمو ډمامو تمام کړ او چې له دې خوبه را ویښیده نو څه ور پاتې نه و. هغه خوارۍ اود خوارۍ له کبله د هغه پخوانی احترام کمښت غبرګ احساس کړل

مگر چاره نه وه ، تر ورخ تیری اوبه نه جاروتلی
او تیر عمر نه راستنیده.
په دا تیر عمر سیف الدین خان یوه ورځ د
پښیماني د شدید احساس په حال کی په لاره
روان و چې د چا غږ يې واوریده:
سیپو اکا ستړی مه شې!
ده چی خپل هغه دروند نوم دومره بې اعتنا
واوریده نو د سلام د ځواب پر ځای يې هغه ته
مخ ور واړاوه او ورته یی وویل:
چی سیپو شومه نو اوس پوه شومه.

# زه له ادیلې نه تیر یم

دا متل په اپریدو کی ډېر اوریدل کیږي او عموما هغه وخت ویل کیږي چې څوک د څه مادي یا معنوي تاوان په منلو سره د زړه ډېر بړاس ایستلو ته چمتو شي.

د متل د راپیلیدو کیسه داسې کوي چې یو وخت اورکزو ناغه تړلې وه چې که چا د پیر زیړې ( کنځا ) وکړې نو یوه ادیله به جرمانه ورکوي . د همدی فیصلی نه راوروسته له یوه اورکزی بزګر غویي وتښتېده. ده په غویي پسې منډې وهلې او غویی له ده تښتېده. سړی یې

**ډېر سترې کړ خو د پير زيړې يې نشواى ورته کولی.اخر يې زړه ډېر براس وکړ، نارې يې کړې:**

**زه له اديلې نه تېر يم، ستا پير...**

# پوزی دی که پوزۍ

# خو ودیږي داود زۍ

هسې وايي چې د داودزيو واده ته ځو کسه يوسفزي راغلي ول او له کورنيو سره يې په دې خبره ډيره اوږد بحث شوی و، چې پوزي ته پوزی ويل پکار دي که پوزۍ. يوسفزي په دې خبره ټينګ ول چې بايد پوزی ورته ووايو خو داودزيو پوزۍ سمه وبلله. د فريقينو مباحثې په

ناستو کسانو واده هیر کړی و او د پوزي او

پوزۍ بحث داسې تود و، چې تا به ویل

بس همدې خبرې ته سره راټول شوي دي  کله

چې دواړه خواوې په خبرو ښې ستړې شوې نو

یوه سپین ږیري اوریدونکي ته یې مخ ور واړاوه

او پوښتنه یې ځنې وکړه چې پوزی ټیک  دی

که پوزۍ ؟ هغه ته چې ددوی بحث بې موقع

معلوم شوی و، نو داسې ځواب یې ورکړ:

پوزی دی او که پوزۍ خو ودیږي داودزۍ.

# تر قل هوالله مه تیریږه

صالح اکا یو خو له ور او تجربه کار سړی و،

د زمانې سړې تودې یې ډیرې لیدلې وې زوی

یې څه موده طالب و، د ملایانو په شمار کې نه

راته خو د صالح اکا په تبلیغ کلیوالو زاړه ملا ته

ځواب ورکړ او دی یې په امامي وټاکه لمونځ

اذان او وړو ماشومانو درس دومره ګران نه و،

لیکن امامت ډیر تحصیل او کافی تجربې غواړي

. یوه ورځ یوه ښځه ورته راغله ورته یې وویل:

غوا مې ناجوړه ده ،که تاویز ورله راکړې، ملا

حیران شو. صالح اکا چې حاضر وو زوی ته یې

وویل:

- تر قل هوالله مه تیریږه!

بله ورځ بلې ښځې د میړه له لاسه سر ورته و

ټکاوه او تاویز یې وغوښت صالح اکا په زوی

ژغ وکړ چې تر قل هوالله مه تيريږه ښځې ورته

وويل :

صالح اکا قل هوالله دې نه لرم خو يوه کاسه

زيړ غوړي به درکړم.

## داملوکو په طول کې که

## کونګټ راشی نو سترګې پرې پټې کړه

یوه سترګ ورېي سړي املوک اخیستی و، او په

خوند خوند یې خوړل دده داملوکو په منځ کې

یو ګونګټ هم و، چې له املوکو سره یې دورته

والی په وجه دتول په وخت ورپام شوی نه وو

خو چې کله یې ګونګټ خولې ته واچاوه او

دغاښونو په منځ کې یې دهغه چینګ واوریده

نو وې ویل:

که چینګ کې که ینګ کې تو تو ولا که یو رانه

پاتې شی. او ګونګټ یې وخوړ.

ددې اروا وږي سړي له دې کاره برنۍ طنزیه

جمله د متل په شکل پاتې شوه.

# خانده خانده ډیرښه کور دې دی !

هسي وايې چې يو غل د چا خوار کره ورغی

غل په کور کې يوه بله خوا ګرځيده چې څه و

مومی پوښتنه يې ترې وکړه ، څه دې وموندل ؟

غله ځواب ورنکړ او د کور پلټلو ته يې ادامه

ورکړه د کورخاوند ورو ورو پسې خندل او

**دده ننداره یې کوله غل چې له څه موندلو بیخي**

**نااميده شو نو د زړه له سوخته يې وويل :**

**خانده خانده ډېره ښه كور دې دی!**

# رښتیا وینا ملا قربان کوله

## چې ځای یې خرمنه و

خرمنه دننګرهار ولایت د خوږ یاڼو په

ولسوالۍ کې دیوې سیمې نوم دی چې نن سبا

څه ناڅه آباده ده خو پخوا بیخی ډاګ وه او

څوک پکې نه اوسیدل.

په پخوا اوختونو کې یو ځل داسې وشول چې

یوې ښځې په ًخرمنهً کې ملاقربان ولید او ورته

ویې ویل ملا صاحب تاولې کلی پریښی دی او

په ډاګ کې اوسې ؟

ملا قربان ځواب ورکړ چې په کلیو کې مې

څوک نه پریږدي ښځې توضیح و غوښتله. ملا

وویل دا ځکه چې زه رښتیا وایم د ښځی زړه ته

د ملا خبره ونه لویده ورته ویې ویل چې په

رښتیاو خو څوک بد نه مني مثلاً دا اوس که

ته ما ته یوه رښتیا خبره وکړې نو زه به ولې خوا

بدوم ملا وويل چې داسې ده نو زه يو رښتيا

درته وايم!

ښځې وويل زر ځله خو يې ووايه ملا وويل :

ستاسو غونډې ځوانې ښځې ته څه لازمه ده چې

بې محرمه په ډاګونو کې ګرځې په ښځې باندې

داخبره بده ولګيده غوصه شوه ملا وخندل ويې

ويل:

اوس چې پوه شو ې درومه خپله لاره وهه خپله

لاره به وهم .

ښځه چې کلي ته راستنه شوه نو د ملا په خبره

یې فکر وکړ او دا یې ومنل چې هغه درښتیا

ویلو په وجه په ډاګ اوسي او وروسته به یې

همیشه ویل چې رښتیا وینا خو ملاقربان کوي

چې ځای یې خرمنه ده .

# هرچا سره پنج خویار اشنا سره نه پنج

هسې وایی چې یو وخت دوه تنه بې لارې ول،

چې د خپل بدخوی په وجه به اکثراً خراو پر وو

یوه ورځ په دې سره سلاشول چې که خلکو به

ناحقه او ناروا کار ولید ونو دهغوی د هرې

خبرې په ځواب کې به صرف وایو چې ًپنجً او

دا پنج ویل به ترهغه تکراره وو چې څو یې

دلیونو ګومان  نه وي راباندې راغلی او خوشي کړی یې نه یو.

دوی پخپله سلاعمل وکړ او څو وخته یې په بې غمۍ تیره کړه خو یوځل داسې وشول چې دایو  ددابل په حق کی پړ راغی هغه وپوښته چې ولې دې داسې وکړل ؟

ده په خواب کې یوائي دایوه کلیمه تکراروله چې پنج، پنج ... یارېې ورته وویل چې آخر له هر چا سره پنج له یار اشنا سره خو نه پنج!